كِتَابٌ اَنْزَلْنه اِلَيْک مُبرَکٌ لِّيَدَّبَّرُو آيتِه وَلِيَتَذَکَّرَ اُولو الْاَلْبَابِ

د قرآن کريم د سورتونو مختصري خلاصى

د

# جيل سوغات

ليکونکي

مجتبى عامر بن عبد المتين عفا الله عنهما سليم خان صوابى

مكتبة الجواهر

مدرسه جواهر القرآن ، سليم خان صوابى ، صوبه خيبر پختونخواه .

٠٣١١٩٣٨٤٠٠٦ ، ٠٣١٢٧٣٩١٧٢٣

﴿جميع حقوق الطّبع محفوظة﴾

---

**الكتاب**: د جيل سوغات

**المؤلّف**: اسيراسلام علّامه مفتی مجتبی عامر صاحب حفظه اللّٰه ورعاه وأنجاه اللّٰه من ظلُمات السّجن

**الكاتب**: المتعلّم الأحقر ابوذر بن دلبرشاه ـ عفااللّٰه عنهما ـ

**الطّبعة**: الثّالثة ، ١٤٤٣ هـ ـ ٢٠٢١ م

**ناشر**

جامعه دارالعلوم جواهر القرآن سليم خان صوابی

## ﴿انتســـــــــاب﴾

د دي خپل معمولی لیک چی د الله تعالی په خصوصی فضل د جیل په ماحول کښي اوشو څه دا خپل لیک د خپل خوږ مرحوم داجی په نوم کوم هغه داجی چي هغه د ماشوموالی نه د بنده عاجز ډیر عجیبه تربیت کړي وو او څه چی طالب وم نو ماته به ئ وئیل چی بچي هغه عالم مِ نه وی خوښ چی په باطل رد نشی کولي او دا به راته وئیل چی بچي هغه عالم مِ هم نه وی خوښ چی درس کښي په کومه ورځ سورت شروع کیږی نو ځان سره د خلاصو کتاب راوړی ولي دي دا سورت نشی یادولي الله تعالی دا خپل دربار کښي قبول کړی او الله تعالی دِ ځما د خوږ داجی د روح د خوشحالئ ذریعه اوګرځوی. امین یاربّ العالمین .

## ﴿ د کتوخبري ﴾

بسم الله الرّحمن الرّحيم

الحمد لله الّذى أنزل على عبده الکتاب ، والصّلوة والسّلام على رسوله وعلى اله وأصحابه الانجاب ، والّذين اتّبعوهم باحسانٍ الى يوم الحساب امّابعد :

الله تعالى د مخلوق د اصلاح دپاره خپل کلام د قران کريم په شکل آخرى هدايت راليږلي دي چي د دي په عملى کولو او قانون کولو باندي الله تعالى نزديکت ، د دنيا او د آخرت کاميابى حاصليږى . د هغي د نازليدلو حکمت ئي که دا وئيلي دي :

” كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْکَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ “

” چي د لوئ شان والا کتاب راليږلي مِ دي تا ته د دي دپاره چي ته اوباسي خلق د تيارو نه رنړا ته “ (ابراهيم : ١)

چي خلق د هر قسمه تيارو نه رنړاګانو ته اوځى نو بل طرف نه د دي حکمت او فائدي او د حصول دپاره کنجى تدبّر او سوچ کول هم وئيلى دى .

” كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْکَ مُبٰرَکٌ لِّيَدَّبَّرُوْا آيٰتِه وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُو الْاَلْبَابِ “ (ص : ٢٩)

” د لوئ شان والا کتاب مِ نازل کړى دي تا ته د خير خودنکي د دي دپاره چي دوئ سوچ اوکړى د دي په آيتونو کښي او نصيحت واخلى عقلمند “ .

تدبّر د قران کريم هغه بغير د قران کريم د ترجمي د زده کولو نه نه کيږى د دي وجي نه فقهاء د امت ذکر کوى چي په

عجمی مومنانو باندي لکه چي د قران ټکی زده کول ضروری دی نو دغه شان د هغي معنی زده کول هم د قران حق دی چي په معنی په صحیح طریقي سره ځان پوهه کړی.

شیخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب رحمه الله تعالی چي کله د مالټا د جیل نه آزاد شو نو وي فرمائیل چي د مسلمانانو د ذلت وجه یو قران پریخودل دی نو ځما عزم دي چي ځه به قران کریم خلقو ته خائم او ماشومانو سره به خواری کوم چي ناظره نه وی زده نو هغوئ ته به ناظره خائم او چي د چا ناظره زده وی نو هغوئ ته ته ترجمه او معنی خائم او بیا هغوئ کلی په کلی مکتبونه د قران دپاره جوړول شروع کړل.

د دغه قافلي یو سالار او په دغه درد دردمند د پختنو د علاقي یو عظیم شخصیت شیخ القران مولانا محمد طاهر رحمه الله تعالی هم وو چي د هغوئ د ژوند مشن قران رسول وو او دا به ئ وئیل چي ځه دا نه وائم چي دي ملک کښي علماء نشته دي او په قران نه پوهیږی خو دا وایم چي قران ته چار کار ندي وئیل او ځه ورته کار وایم. او د هغوئ د ملغلرو نه یوه داملغلره هم ده چي هغوئ به فرمائیل چي ځما ارمان دي چي د پښتون بچی بچی په قران کریم پوهه شی.

د هغوئ ارمان او مسلسل کوشش وو چي د پښتنو په علاقه کښي د قران سره ډیر زبردست انقلاب راغي د قران فهمئ محنتونه عام شو او کیږی الله تعالی دی دیکښي برکت اوغورځوی.

څه عاجز بنده د څه مودي نه په قيد کښي بندی يم نو مختلفو ملګرو سره د درس د قران موقع ملاؤ شوه نو اکثر عوام ملګری وو نو هغوئ سره به د خلاصو د قران تذکره کيدله نو د هغوئ مطلابه وه چي که په آسانه دا خلاصي اوليکلي شی چي عوام ئي يادولي شی هغه ملګرو بار بار اصرار سره او خپل د يو فکر رااوچتيدلو سره چي د ماشوموالی سبق او ياد د کانړی کرخه وی نو فکرمِ اوکړو چي کله چرته په آسانه طريقه اصول او خلاصي اوليکلي شی چي ماشومانو باندي په ياده يادي کړي شی نو يو به هغوئ ته د قران په پوهه کښي فائده ورکړی دويم به فرک د هغوئ ورسره قرانی شی نو مختصر اصول د هغوئ دپاره د رسالي په شکل کښي مرتب شو او دويم دا مختصری خلاصي هم مرتب کړي شوي چي په ماشومانو د يادولو کوشش اوکړي شی چونکه دا ليک په جيل کښي شوي دی نو د هغي په مناسبت د دي نوم د " جيل سوغات " کيخودلي شی .

د ابتدائی هلکانو استاذانو ته درخواست دي چي دا رساله په ماشومانو باندي ياده کړي شی او د امتحان او مقابلي په شکل باندي هغوئ له ترغيب ورکړي شی ، که نيمه صفحه يادولي شی او که صفحه خو لږ لږ پري سبقی ياد کړي شی .

کتونکو رونړو ته درخواست دي چي ما عاجز له او هر قيدی رور له د رهائ دعاګاني اوکړی الله تعالی د مونږ ته د خپل دين د خدمت دپاره رهائ او خلاصون نصيب کړی امين .

الله تعالی ته سوال او زاری کوم چي دا لیک د خپل کتاب د خدمت یو ذریعه اوګرځوی او الله تعالی پري ملګرو او کتونکو ته فائده نصیب کړی او الله تعالی دِ د خپل رضاء او محبت ذریعه اوګرځوی . او الله دی ځما د استاذانو او مور پلار رونړو خویندو دپاره صدقه جاریه کړی چا چی ما سره پدي لیک کښي څه قسمه خدمت کړي دي او د چهاپ باره کښي څوک څه خدمت کوی الله تعالی دِ هغوئ ته د دنیا او آخر خوشحالئ نصیب کړی . امین یاربّ العالمین .

لیکونکي

مجتبی عامر بن عبد المتین عفا الله عنهما .

سلیم خان صوابی

حالًا مسجون راجی الخلاص

٢ صفر المظفر ١٤٤٢هیوم الجمعة عصر ٠٦ : ٤

١٩ اکتوبر ٢٠٢٠ء

## ﴿ يو څو ضروری د يادولو خبري ﴾

**توحيد** :- د اللّٰه تعالی د يو والی مسئله چي اللهتعالی پهذات او صفاتو کښي يو اوګڼل .

**رسالت** :- د نبی عليه السّلام د پيغمبرئ مسئله صداقة الرّسول ورته هم وائی .

**صداقة الکتاب**:- د قران کريم د ريشتنوالی مسئله چي قران حق کتاب دي .

**ايمان بالاخرة**:- د آخرت ،قيامت د منلو مسئله .

دي څلور مسئلو ته سوابق ، مقاصد مهمّه ، مقاصد عاليه وائی .

**جهاد** :- د دي مسئلو د ترقئ او د خورولو دپاره خپل کوشش کولو ته جهاد فی سبيل اللّٰه تعالی وائی .

**انفاق**:- د دي مسئلو د ترقئ دپاره خرچ کولو ته انفاق فی سبيل اللّٰه تعالی وائی .

**تنظيم**:- د دغه عقيدي او مشن ملګری يو کول او اتّفاق برابرولو ته تنظيم وائی .

**اداب**:- د مشر او کشر لحاظ کول د اتّفاق د خيال ساتلو مسائلو ته اداب وائی .

دي څلورو ته لواحق ، مقاصد ممدّه مسائل ممدّه وائی . دي اتو وارړو ته مقاصد ثمانيه وائي .

**دعوی**:- د سورت مرکړی مسئلي ته دعوی وائی .

**دلیل**:- د دعوي د ثبوت دپاره چی کوم ګواه پیش کولی شی هغي ته دلیل وائی دا کله د عقل وی کله د نقل وی کله د وحی وی د دي جمع دلائل ، ادلّه راځی دریوارو ته ادلّه ثلاثه وائی .

**حلف او قسم**:- کله د دعوي د ثبوت دپاره قسم کولي شی د ګواه په طور هغه ته قسم وائی او شاهد هم وائی او جمع ئی شواهد راځی .

**نتیجه**:- د سورت مرکزی مسئله چی د دلیلونو نه مخکښي وی نو دعوی ورته وائی او چی د دلائلو نه روستو ذکر شی نو نتیجه ، ثمره ورته وائی .

**تنویر** :- چی مسئله بیا بیا ذکر کوی او رنړائی پري غورځوی نو دیته تنویر وائی .

**بشارت**:- د منونکو د مسئلی دپاره چي د دنیا او د آخرت خوشحالئ او زیري ذکر کیږی نو دیته بشارت او تبشیر وائی .

**تخویف**:- نه منونکی د دنیا او د آخرت د عذاب نه یرولو ته تخویف وائی .

**زجر**:- چی کله دلیلونه ذکر شی او بیا هم څوک انکار کوی یا څه نالائقه خبره کوی نو په هغي بادي زورلو او رټلو ته زجر وائی .

**امور مصلحه** :- نیک اعمال د کلکون او زړه د تسلئ دپاره چي مینځ د خبره کښي ذکر کیږی نو هغي ته امور مصلحه وائی د الله سره تعلّق راوستونکی اعمال .

**امور انتظامیه** :- د مسلمانانو د اتّفاق ، یووالی دپاره چي کومي مسئلي ذکر کیږی نو هغي ته امور انتظامیه وائی .

**تسلّی**:- چي داعی بیان کوی او خلق نه منی او تکلیف ورته رسوی نو اله تعالی هغه له تسلّي او ډاډګیرنه ورکوی .

**تشجیع**:- بهادر کول په رسولو د مسئلي باندي .

**ترغیب**:- د یو کار طرفته شوق او مینه راپورته کولو ته ترغیب وائی .

**ترهیب**:- یرول د یو کار نه چی ځان تري بچ کړي شی .

**تزهید من الدّنیا**:- د دنیا نه مینه ختمول او کټ کول .

**عقبات**:- غونډئ او امتحانات چی په داعی باندي راځی .

**ابتلاء بالنّعم والنقم**:- په خوشحالو او په سختو باندي امتحانات کول کله خه حالات اللّٰه تعالی راولی او کله به د بنده ازمیښت او امتحان وی .

**تحذیر**:- یرول د یو کار نه .

**تحضیض**:- تیزول په یو کار باندي .

**ربط**، مناسبت او تړون ، رشته جوړ د سورت د سورت سره یا د آیت د آیت سره .

**تقسیم** ، ویشل د آیتونو د سورت ، چي دومره کښي دا مسئله او دومره کښي دا مسئله .

**خلاصه**:- اوږد سورت په لنډو الفاظ پیش کول چي صرف مقصودی مضامین ذکر شی او تبعی پریښودلي شی .

**امتیاز**، حداوالي او خصوصیت د سورت یعنی داسي مسئله چي بل سورت کښي نه وی .

دا يو څو خبري د راروان كتاب نه د فائدي اغستلو دپاره يادول ضروری دی الله تعالی دی د قران كريم صحيح فهم او پوهه او د هغي عمل څمونږ د ټول نصيب كړی . امين .

﴿بسم الله الرّحمن الرّحيم﴾

## ﴿سورة الفاتحة﴾

سورة الفاتحه مکی سورة دي نزول کښي ٥ نمبر دي پس د سورة المدثر نه او مخکښي د سورة اللّهب نه نازل شوي دي .

### ﴿فضیلت د دي سورت﴾

دي سورة کښي ربط نشته ځکه مخکښي سورة تري نشته دي نو د دي په ځائی استاذان فضیلت ذکر کوی نو د فضیلت یوه طریقه دا ده چي د دي سورة د فضیلت باره کښي ډیر روایتونه راغلی دی او دیته ئی اعظم سورت د قران وئیلی دی .

دویمه طریقه د دي نومونه زیات دی تقریبًا د شلو پوري نومونه ذکر کیږی پنځه د هغي : یو الفاتحه ځکه قران پري شورع کیږی دویم الکنز ځکه دا د الله دپیژندګلو خزانه ده دریم سورة تعلیم السّؤال د الله نه د غوختلو چل خائی څلورم امّ القران پنځم اساس القران ځکه چي ټول قران دیته راجمع کیږی او دا د قران د پوهیدلو بنیاد دي .

دریمه طریقه ټول قران دیته راجمع کیږی نو د هغي ډیري طریقي دی نو یوه طریقه د قران اهم مضمونونه څلور دی توحید ، رسالت ، صداقة الکتاب ، ایمان بالاخرة . دا څلور واړه پدي کښي ذکر دی دویمه طریقه قران کریم د پوهي په اعتبار څلور حصي دي اوله حصه د مائدي تر ختمه پوري پدیکښي دا ذکر کوی چي پیدا کونکي د هر څه الله تعالی دي الحمد لله کښي دیته اشاره ده .

دويمه حصه د انعام نه تر بنی اسرائيل تر ختمه پوري پديکښي دا ذکر کوی چي پالونکي د هر څه الله تعالی دی دا رب العالمین سره ذکر کوی دريمه حصه د کهف نه تر احزاب تر آخره پديکښي مسئله د برکت ذکر کوی الرّحمن الرّحيم کښي ديته اشاره ده . څلورمه حصه د سبا نه تر آخره پديکښي وائی چي اختيار د هر څه د الله سره دی او څوک بے اجازته سفارش نشی کولي مالک يوم الدّين کښي ديته اشاره شوه نو ټول قران فاتحه کښي شو .

﴿دعوی د سورة﴾

د سورة اهمه مرکزی مسئله هغه د توحيد ده الحمد لله چي هر قسمه د کمال او خدائتوب صفتونه د الله تعالی دی دا د قران اهمه مسئله ده نو سر کښي ئی ذکر کړه .

﴿خلاصه د سورت﴾

پدي دعوی اول څلور دليلونه ذکر کوی چي خالق ، ربّ ، رحمن ، او مالک الله دي بيا څلورم آيت کښي د دي دليلونو نتيجه ذکر کوی چي کله دغه منی نو عبادت هم صرف د هغه کوه او حاجتونه به هم صرف د هغه نه غواړئ . بيا د پنځم آيت نه په دعوی باندي د کلکيدلو دعاء او د هغي نه روستو دري ډلي يو چي چا ته کلکون نصيب شوي وو انعمتَ سره . او دوه ډلي د نافرمانو ذکر کوی يو چي مهر پري لګيدلي دي دويم چي مهر پري ندي لګيدلي دي قابل د اصلاح دی .

﴿امتياز﴾

د ټول قران لنډيز او ديباجه د قران کريم .

﴿سورة البقرة﴾

سورة البقرة مدنی سورة دي په نزول کښي ۸۷ نمبر دي پس د سورة مطففين او مخکښي د سورة الانفال نه .

﴿ربط د مخکښي سورة سره﴾

په مخکښي سورة کښي دعاء د هدايت اوشوه نو اوس هغه غوختلي شوی هدايت ذکر کوی يعنی د دعاء د قبليدلو تذکره کوی چي ذالک الکتاب ....

﴿دعوی د سورة﴾

دا سورت اوږد دي نو ځلور مسئلي پکښي ذکر کوی يو توحيد دويم رسالت دريم جهاد او ځلورم انفاق . دوه مسئلي د اولو ځلورو نه او دوه مسئلي د روستو ځلورو نه ذکر کوی .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

د دي مسئلو د بيان دپاره سورة ځلور حصي دي اوله حصه تر ۹٦ پوري پديکښي توحيد يعنی د الله تعالی د يو والی مسئله لا اله الّا الله ذکر کوی . دويمه د ۹۷ نه تر ۱۷٦ پوري پديکښي د نبی عليه السّلام د پيغمبرئ د توحيد داستان محمّد رسول الله تذکره . دريمه حصه د ۱۷۷ نه تر ۲۵۳ پوري پديکښي د جهاد فی سبيل الله تذکره مخکښي دوو مسئلو له محنت کول . ځلورمه حصه د ۲۵٤ نه تر آخره پوري پديکښي د انفاق فی سبيل الله ذکر کوی . آخری رکوع دټول سورت خلاصه ده .

اوس لږ د هري حصي تفصيل .

## ﴿اوله حصه﴾

اولنۍ حصه تر ۹٦ آیت پوري ده پدیکښي مسئله د توحید ذکر کوی او دا دري بابونه ده . اول باب ۲۰ آیتونه دی پدي کښي د قران مقام چي دا مسئله د لوئ کتاب په حواله کیږی او دري ډلي چي د دي منونکی په دواړه جهانه کامیاب دی او د دي نه منونکی په دواړه جهانه ناکامه دی . او د دي سره غداری کونکی که خپله اصلاح اونکړی نو هغه هم تباه دی ۱٦ پوري بیا د روستو دوو ډلو د وضاحت دپاره مثالونه ذکر کوی .

دویم باب د ۲۱ نه تر ۳۹ پوري پدي کښي هغه انقلابی آواز ذکر کوی د کومي وجي نه چي خلق دري ډلي کیږی چي هغه مسئله د اعبدوا ده په عام اعلان سره ذکر کوی په هغي پنځه دلیلونه او د نه منونکو او منونکو حال او بیا څلور عام احسانات د ۲۸ نه ذکر کوی یو احسان چي د نیش نه مِ شته کړي يئ ۲۸ کښي دویم د دنیا د فائدي څیزونه مِ ستاسو دپاره پیدا کړي دی نو څنګه تاسو دغیر عبادت کوئ ۲۹ کښي . بیا دریم احسان چي ځان ته اوګورئ د لوئ مقصد خلافت دپاره پیدا يئ او لوئ دولت دعلم مِ درکړي دی او فرشتو ستاسو د بابا تعظیم کړي دي نو دومره د غټ خاندان سړی سره د شرک غوندی کچه کر خه نه خکاری نو اعبدوا ربّکم ۳٤ پوري . بیا څلورم احسان چي ستاسو د بابا نه کمي شوي وو هغه مِ ورته معاف کړو نو د پلار د احسان قدر اوکړئ او د غیر عبادت مه کوئ ۳۷ . بیا منونکو د دي مسئلي ته زیري او نه منونکو ته یره ذکر کوی .

دريم باب د ٤٠ نه تر ٩٦ پوري پديکښي بنی اسرائيلو ته دعوت د توحيد ورکوی يعنی خاص خطاب پس د عام نه اول هغوئ ته د اصلاح دعوت ورکوی چي توحيد اومنی د دي نبي په دعوت او د ځان نه دري پليتئ تحريف ، کتمان د حق ، ترک عمل لري کړئ . او خه صفتونه د مومنانو ځن کښي راولئ صبر ، صلوة او ايمان په آخرت .او بيا ورته يره ذکر کوی چي قيامت کښي به په توحيد خلاصيږئ . بيا د ٤٩ آيت نه شپږ تقريرونه دوئ ته کوی خطابات ستّه چي د هغي حاصل چي دوئ له دعوت د مسئلي په دوو طريقو ورکوی يو په طريقه د احساناتو دويم د دوئ خباثتونه ذکر کوی احسانات ذکر کوی چي ما درسره خه کړی دی نو تاسو هم خه اوکړئ ګنی سزا به درکړم او خباثتونه ذکر کوی ځکه چي نور خلق پري دهوکه نشي چي خلق وائی چي دا مليان ئي نه منی نو قران وائی چي دا خلق د دي قابل ندی چی د دوئ تقليد اوکړي شی . بيا چي خطابونه ختم شی نو آخر کښي اعلان د مباهلي کوی .

﴿دويمه حصه﴾

د قُلْ مَنْ كَانَ .... (٩٧) نه دويمه حصه د سورت تر ١٧٦ پوري پديکښي د کلمي دويمه حصه د محمّدٌ رسول الله تذکر کوی چي د توحيد استاذ داعی محمد رسول الله صلّى الله عليه وسلّم اومنئ . نو دلته خطاب يهودو سره دي او دا مليان وو نو ملا اعتراضونه کوی نو د ده ئی نهه شبهی او شکونه بهاني ذکر کوی او هغي جوابونه کوی او اووه اعتراضونه چي ذکر شی نو د اووم او اتم اعتراض تر مينځه د ابراهيم عليه السّلام تذکره د دريو غټو

مقصدونو دپاره د ٦٤ نه تر ١٤١ پوري . بيا اتم او نهم اعتراض د هغي نه روستو د حق پښتونکو ته زورنه او بيا مسئله د توحيد چي دا ښکاره کول غواړی او پيغمبر دي له راغلي دي په هغي اته دليلونه د ١٦٣ نه او بيا رد د شرک فعلی آخر کښي بيا زورنه د حق پښتونکو ته چي پدي اعتراضونو دوئ حق پښتول غواړی .

د اعتراضاتو والا آيتونه ٩٧ ، ١٠٢ ، ١٠٢ ، ١٠٤ ، ١٠٦ ، بيا مسلمانانو ته بيداریٔ او يهودو ته زورنی ١١٦ ، ١١٨ کښي نور اعتراضونه او په ١٤٢ او ١٥٨ کښي .

﴿دريمه حصه﴾

د ليس البرّ ١٧٧ نه دريمه حصه تر ٢٥٣ پوري پديکښي د دي دوو اهمو مسئلو د خورولو او حاکم کولو د کوشش او محنت تذکره چي هغي ته جهاد وائی . د جهاد دري اهم منازل ذکر کوی اول د مجاهد د اصلاح لس مسئلي په ١٧٧ کښي بيا د ملک د اصلاح دپاره څلور مسئلی ١٧٨ ، ١٨٠ ، ١٨٣ ، ١٨٨ ،د ١٩٠ نه د جهاد ترغيبات او د حج او عمري مسئله تنويرًا على الجهاد تر ٢٠٣ پوري بيا ترغيبات جهاد ته او د ٢١٥ نه دريم منزل د جهاد کور اصلاح ذکر کوی د هغي اتلس مسئلی تر ٢٤٢ پوري . بيا په واقعاتو د مخکښينو ترغيب جهاد ته او حکمت د جهاد په ٢٥١ کښي .

﴿څلورمه حصه﴾

د يايّها الّذين امنوا ٢٥٣ نه څلورمه حصه د سورت ته آخره پوري پديکښي بيان د انفاق فی سبيل الله چي جهاد بغير د انفاق نه نه کيږی نو انفاق ته اول ترغيب ورکوی بيا هغه مسئله ذکر کوی

چي د هغي دپاره جهاد کيږی مسئله د توحيد ٢٥٥ کښي په ٢٥٦ کښي جواب د شبهي کوی بيا دوه ډلي د الله دوستان دويم د شيطان دوستان او د دواړو مثالونه تر ٢٦٠ پوري . ٢٦١ نه د انفاق مثالونه ٢٦٦ پوري . د ٢٦٧ نه ٢٧٢ پوري انفاق ته ترغيبات ذکر کوی . بيا مصارف او ترغيب ذکر کوی د ٢٧٥ نه شومانو بخيلانو ته زورنه ذکر کوی او بيا د صحيح معاملاتو تذکره کوی او آخری رکوع خلاصه د ټول سورت ده څلور واړه مسئلې پکښي ذکر کوی .

﴿امتياز﴾

واقعه د بقري او د قبلې د بدليدلو تذکره او د جهاد منازل .

﴿سورة ال عمران﴾

سورة ال عمران مدنی سورت دي نزول کښي ٨٩ نمبر دي پس د سورة الانفال نه او مخکښي د احزاب نه .

﴿ربط مخکښي سورة سره﴾

سورة البقرة کښي څلور مسئلې ذکر شوي نو اوس دلته هم هغه څلور مسئلي ذکر کوی خو سره د رد د شبهاتو نه يعنی د نه منونکو چي کوم شبهات دی د هغي جوابونه ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

د سورت اهمي مسئلې هغه څلور دی کومي چي د سورت البقري وي . توحيد ، رسالت ، جهاد ، انفاق .

## ﴿تقسيم او خلاصه د سورت﴾

د دي مسئلو د بيان دپاره سورت دري حصي دی اوله حصه ٦٣ آيتونه په بيان د توحيد کښي دويمه حصه په بيان د رسالت کښي د ٦٤ نه تر ۱۰۱ پوري دريمه د ۱۰۲ نه تر آخره په بيان د جهاد او انفاق کښي .

## ﴿اوله حصه﴾

د سورة اوله حصه د ابتداء نه تر ٦٣ پوري ده پديکښي مسئله د توحيد ده او د عيسايانو يوه غټه مرکزی شبه رد کوی او د هغي جوابونه کوی . دري بابونه دی اول باب ۱۷ آيتونه دی پديکښي مسئله د توحيد باندي عقلی ، نقلی ، وحی دليل . بيا ۷ کښي د شبهی جواب چي دوئ شبه کوله چي زمونږ کتاب کښي عيسی عليه السّلام ته ابن الله وئيلی دی نو د هغي اول جواب چي که دا لفظ وی نو تاسو ئی په معنی نه پوهيږئ بيا يره او تزهيد من الدّنيا او ترغيب الی الآخرة .

دويم باب د ۱۸ نه تر ۲۵ پوري اول مسئله د توحيد ذکر کوی بيا دويم جواب چي توحيد د ټولو انبياء اجماعی مسئله ده نو د دي خلاف عبارتونه باغيانو د ځان نه دننه کړی نو دا لفظ د ابن الله باغيانو د ځان نه دننه کړي دي بيا د نصارو پليتئ او ورته يره د آخرت ذکر کوی .

دريم باب د ۲٦ نه تر ٦۳ پوري پديکښي اول مسئله د توحيد بيا بائيکاټ د هغه چا نه چی توحيد نه منی او ترغيب اتباع د نبی عليه السّلام ته چي د ده په طريقه بائيکاټ اوکړئ او بيا د ۳۳ نه

تفصيلي جواب د شبهي او شره نسب د عيسى عليه السّلام ذكر كوى د هغه د مور پيدائش او بيا د هغه د پيدائش تذكره كوى آخر كښي اعلان د مباهلې او مسئله توحيد ذكر كوى .

﴿دويمه حصه﴾

د ٦٤ نه تر ١٠١ پوري دويمه حصه د سورت په بيان د رسالت كښي چې دا مسئله د دي پيغمبر په دعوت اومنئ خو دلته نصاره ته خطاب دي او هغه پيران ووو خلق پري دهوكه كيدل نو د هغئ پليتئ پنځلس ذكر كوى او هغي پليتو په ضمن كښي دوه شبهي او د هغي جوابونه كوى آخر كښي اعلان د بائيكاټ او ترغيب اتّباع د نبی عليه السّلام ته .

چي كومو آيتونو كښي پليتئ د هغي تذكره ٦٤ ، ٦٥ ، ٦٩ ، ٧٠ ، ٧١ ، ٧٢ ، ٧٣ ، ٧٥ ، ٧٨ ، ٧٩ ، ٨١ ، ٨٦ ، ٩٣ ، ٩٦ ، ٩٩ ...

﴿دريمه حصه﴾

د ١٠٢ نه دريمه حصه د سورت په بيان د جهاد او انفاق كښي جهاد او انفاق يو ځائ ذكر كوى اول د جهاد او انفاق دپاره د تنظيم ضرورت وى نو د تنظيم د جوړولو دپاره پنځه قاعدي ذكر كوى . اول قاعده ١٠٢ كښي چي عقيده به د ټولو يوه وى دويمه قاعده ١٠٣ كښي چي قانون به قران او سنت وى دريمه قاعده په ١٠٤ كښي چي د جماعت افراد به د جماعت منشور او قانون له دعوت وركوى بيا دي ته ترغيب وركوى او چي چا امر بالمعروف نه كوو نو د هغوئ د ذلت تذكره كوى . بيا په ١١٥ كښي څلورمه قاعده چي د جماعت افراد به په جماعت مال لګوى پنځمه قاعده د جماعت د

حفاظت دپاره ذكر كوی ۱۱۸ كښې چې غير به په تاسو كښې راز دار نه وی او د غير نه د بائيكاټ لس وجې ذكر كوی . د ۱۲۱ نه د احد او د بدر واقع پدې قواعدو تفريع كوی خصوصًا په پنځمه واقعه باندې . چې احد كښې د اصولو پابندی ونشوه غير راز دار شو نو د كلكو خپې په خوئيدلو شوې او د بدر واقع چې د اصولو پابندی وه نو كاميابې وه۸ بيا زورنه سود خورو ته چې سود سره مدد بنديږی ۱۲۰ كښې بيا جواب د شبهې په جهاد د ۱۳۸ نه چې احد كښې ولې شكست اوشو نو د هغې جوابونه او حكمتونه زورنې وغيره سره د حكمت د جهاد نه تر ۱۷۹ بيا زورنه شومانو ته جواب د شبهې په انفاق په ۱۸۱ كښې بيا زورنې ترغيبات آخری ركوع كښې خلاصه د سورت ده .

﴿امتياز﴾

جواب د مركزی شبهې د نصارو او د تنظيم اصول ذكر كوی

﴿سورة النّساء﴾

سورة النّساء مدنی سورت دې په نزول كښې ۹۲ دې پس د سروة ممتحنې اومخكښې د سورت زلزال نه نازل شوې دې .

﴿ربط د مخكښې سورت سره﴾

مخكښې سورة كښې د عقيدې اصلاح اوشوه اوس د مسلمانانو د معاشرې اصلاح ذكر كوی چې جهاد كول آسان شی ځكه چې معاشره سمه نه وی نو جهاد نه كيږی .

### ﴿دعوى د سورة﴾

د سورة مرکزی مسئله ده اصلاح د معاشری یعنی د مسلمانانو د وړي او غټي معاشري اصلاح دپاره قوانین ذکر کوی چي جهاد کول آسان شی .

### ﴿تقسیم او خلاصه د سورت﴾

د دي مسئلي د بیان دپاره سورة دري حصي دی اوله حصه د ابتداء نه تر ۵۷ پوري پدي کښي د مسلمانانو د وړي معاشري دپاره ۱٦ مسئلي ذکر کوی چي د هغي په عملی کولول کښي بادشاه ته حاجت نشته دي . د احکامو آیتونه دا دي : ۲ ، ۳ ، ٤ ، ۵ ، ۷ ، ۱۱ ، ۱۵ ، ۱۹ ، ۲۲ ، ۲٤ ، ۲۹ ، ۳۲ ، ۳۳ ، ۳۵ ، ۳٦ ، د دي احکامو په مینځ کښي زورني مسلمانانو ته دري ذکر کوی او د احکامو نه روستو شپږو آیتونو کښي زورني منافقانو ته چي سیاسی لیډران دا معاشره پدي قوانینو نه جوړوی او ۱۲ آیتونو کښي اهل کتابو ته زورني چي دا یهود هم پدي قوانینو معاشره نه جوړوی آخر کښي تخویف او بشارت ذکر کوی .

### ﴿دویمه حصه د سورت﴾

د ۵۸ نه تر ۱۳٤ پوري دویمه حصه د سورت ذکر کوی پدیکښي اته قوانین ذکر کوی د اعلی سیاست د ملک د اصلاح دپاره چي د هغي په جاری کولو کښي بادشاه ته ضرورت وی نهم قانون تنویر په ماسبقه باندي دي او آخر کښي رد د شرک فی التّصرف ذکر کوی چي اختیار د هر څه د الله نو د اصلاح د ملک او معاشري هم د الله دي . د احکامو آیتونه دا دی : ۵۸ د دي نه

روستو ترغيب اطاعت ته او زورني هغه چا ته چي په قران معاشره نه جوړوی ۷۱ ، ۷٤ ، ۹۲ ، ۹۳ ، ۱۰۰ ، ۱۰۱ ، ۱۰۵ او ۱۲۷ . مینځ کښې زورني منافقانو ته او ترغيب قتال ته .

﴿دریمه حصه د سورت﴾

د ۱۳۵ نه تر آخره پوري دريمه حصه د سورت اول مومنانو ته تلقين د تثبّت او ترغيب بيان ته بيا زورنی منافقانو ته تر ۱۵۲ پوري چي د اعلى معاشري د جوړولو دشمنی کوی . ۱۵۳ نه اهل کتابو ته زورني چي يهود د دي قوانينو هم خلاف کوی . بيا د ۱۶۳ نه صداقت د نبی علیه السّلام او ترغيب قران ته چي نور راغلي دي معاشره به نورانی شی آخر کښي ترغيب احکامو ته .

﴿امتیاز﴾

ردّ د شرک فی الحکم او د طاغوت رد او اصلاح د معاشري.

﴿سورة المائدة﴾

سورة المائدة په نزول کښي ۱۱۲ نمبر دی پس د سورة الفتح او مخکښي د سورة التّوبة نه .

﴿ربط د مخکښي سورة سره﴾

مخکښي سروة کښي د جهاد د انتظام دپاره اصلاح د معاشري ذکر شوه نو اوس اصلاح دخوراک کوی چي کله حرام خورئ نو جهاد نشی کولي نو عمل د شرک نه پاک کړئ او حلال خورئ . چي الله تعالی مو مدد اوکړی .

## ﴿دعوی د سورة﴾

بیان د حلالو او د حرامو په وضاحت د څلورو مسئلو (١) تحریمات الله (٢) تحریمات العباد (٣) نذور الله (٤) نذور العباد : حرام هغه دی چي الله حرام کړیدی او حلال هغه دی چي الله حلال کړیدی دا توحید شو په مقابل کښي د بندیانو په ځان بند شوی څیزونه حرام ندی هغی ته حرام مه وایئ په عقیده د سپیره توب منخته او نذر د الله حق دے دا عبادت دے نو د غیر په نو مه کوئ نو تحریمات الله او نذور الله توحید او تحریمات العباد او نذور العباد شرک فعلی شو سورت د دی وضاحت کوی .

## ﴿خلاصه او تقسیم د سورة﴾

د دي مسئلو د بیان دپاره سورت لس بابونه دي او آخر کښي تتمّه ده اول باب پنځم آیت پوري دویم یولسم پوری دریم نولسم پوری څلورم شپږویشتم پوری پنځم څلویښتم پوری شپږم پنځوستم پوری ووم یوکم شپیتم اتم شپږ شپیتم پوری نهم شپږ اتیایم پوری اولسم یوسل پنځم پوری بیا تتمه ده تر اخره پوری په اول باب کښي دعوه د سورت او څلور مسئلی ذکر کوی دویم باب کښي امر مصلح دزړه د کلکیدو دپاره او ترغیب بیان ته چی حفاظت دِ الله کوی دریم باب کښي نمونی ذکر کوی د ماتونکو د وعدی او سزاګانی سره د ترغیب نه منلو د پیغمبر ته په څلورم باب کښي چي څوک وعده کښي سستی کوی د هغوی مثال او زورنه سستی کونکو ته پنځم باب کښي ذکر د سزا د ظالم شپږم باب کښي تسلی داعی ته او ترغیب د قانون کولو کتاب د الله ته او زورنه

هغه چا ته چي د الله کتاب نه حاکم کوی اووم باب کښي بائيکاټ د اهل کتابو نه چي دوی فيصله د الله کتاب ته نه اوړی اتم باب کښي پليتئ د اهل کتابو ذکر کوی چي د دوی د دوستانی نه بائيکاټ اوکړئ او د الله قانون قانون کړئ نعمتونه به درکړی نهم باب کښي ترغيب مسئلی رسولو ته حفاظت به دِ الله کوی لسم باب کښي هغه څلور مسئلی ذکر کوی او اداب چې بے ځايه سوالونه مه کوئ په تتمه کښي وائی چی د غير په نوم قسم کول هم شرک دے ځکه عالم الغيب او متصرف صرف الله دے نو صرف د هغه په نوم منخته اوکړئ او د هغه حرامو ته حرام اووايئ .

﴿امتيازد سورة﴾

تقريبًا شپاړس ځله په اکثريت رد کول د سورت امتياز دي

.

﴿سورة الا نعام﴾

سورة انعام په نزول کښي ۵۵ او په ترتيب قرانی کښي شپږم روستو د حجر او مخکښي د صافات نه نازل شويدي .

﴿ربط د سورت د مخکښي سورت سره﴾

د دي ځائ د قران کريم دويمه حصه شروع کيږی د حصی د حصی سره ربط دا دي چي هر کله د هر څه خالق الله دي نو مربّی او پرورش کونکي هم الله تعالی دي دا مسئله به تر کهف پوری بيانيږی او ربط د سورت د سورت سره دا دي چي مانبده کښي رد د شرک فعلی وو په اول کښي او بيا رد د شرک اعتقادی وو نو دلته

هم دغه شركونه رد كوى خو عكس طريقه باندى يعنى اول رد د شرك اعتقادى كوى او بيا د شرك فعلى .

﴿دعوى د سورت﴾

رد د شرك اعتقادى او فعلى سره د ټولو قسمونو او بيان د توحيد په دلائل عقليه سره .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورة دوه حصى دي اوله حصه تر ۱۱۷ پوري ده پديكښي رد د ټولو قسمونو د شرك اعتقادى نه چى شرك فى العلم ، فى التّصرف ، فى الدعاء او فى العبادة دي او ۲۲ دلائل عقليه څلور وحى دلائل او دري نقلى دلائل او څلور عقبات يعنى امتحانات چي په داعى راځى په ۵۳ ، ۵۵ ، ۱۰۵ او ۱۱۲ كښي ورسره زورنى او تسلى ذكر كوى دويمه حصه د ۱۱۸ نه تر آخره پورى پديكښي رد د شرك فعلى او رد د رسمونو د جاهليت باندى دري دلائل عقليه او دوه امتحانونه چي په داعى راځى په ۱۲۳ او ۱۲۹ كښي څلور دلائل وحيه او يو نقلى دليل ذكر كوى او سورت ختموى په لنډو تخويف او بشارت باندى .

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په رد د هر قسمه شرك او مشركانو باندى او په ۲۵ دلائل عقليه او عقبات ستّه باندى چى په داعى راځى .

﴿سورة الاعراف﴾

سورت اعراف د نزول په ترتیب سره یو کم څلویښتم دي روستو د سورة ص او مخکښي د سورة الجن نه نازل شویدي او د قران تریب سره اووم دي روستو د انعام او مخکښي د انفال نه .

﴿ربط د سورت د مخکښني سورت سره﴾

هغه کله چي مسئله په عقلی نقلی او وحی دلائلو سره ثابته شوه نو اوس دا مسئله اورسوه او تسلّی ساته چي کامیابی ستا ده .

﴿دعوی د سورة﴾

سورت اهمی دري مسئلی ذکر کوی : (۱) ترغیب الی التّبلیغ (۲) اتّباع د ما انزل (۳) بلنه او عبادت صرف د اللّٰه حق دي .

﴿خلاصه د سورة﴾

پدي دریواړو مسئلو باندی واقعات ذکر کوی بغیر د لحاظ د ترتیب نه ۵۸ پوري په دویمه مسئله یوه واقعه ذکر کوی د شیطان د یولسم/۱۱ نه ۲۵ پوری یعنی شیطان ذلیله شو ځکه اتّباع د ما انزل ئی اونکړه او انسانانو ته خطابونه چي د شیطان نه ځان اوساتئ بیا د ۵۹ نه واقعات ذکر کوی په دریمه مسئله چي دعا او عبادت صرف د یو اللّٰه تعالی حق دي ځلور واقعات ذکر کوی د نوح علیه السّلام ۵۹ نه ، د هود علیه السّلام ٦۵ نه ، صالح علیه السّلام ۷۳ نه ، د شعیب علیه السّلام ۸۵ نه . بیا په دویمه مسئله په اتباع د ما انزل دویمه واقعه د لوط علیه السّلام د تسلئ او د ترغیب الی التّبلیغ دپاره چي مسئله اورسوه کامیابی ستا ده بیا په آخر د سورت کښي دریواړه مسئلی بیا ذکر کوی .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دے په تذکره د دولس هلاک شوو قومونو او په تذکره او په واقعه د بلعم بن باعوره .

﴿سورة الانفال﴾

ترتيبِ قرآني په لحاظ سره اتم نمبر دي روستو د اعراف او مخکښي د توبه نه او د نزول په اعتبار سره ۸۸ نمبر دي روستو د بقره او مخکښي د ال عمران نه نازل شويدي .

﴿ربط د سورت د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي د ژبې دعوت ذکر شو ، اوس په توره دعوت ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

د جهاد قواعد او اصول ذکر کوی .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت دوه بابونه دي ، اول باب ٤٥ پوری دي ، پديکښي اول د مسلمانانو د اتّفاق دپاره دري امرونه ذکر کوی ، بيا د مجاهد پنځه صفات ذکر کوی چي مجاهد کښي به دا پينځه صفات وی بيا ترغيبات جنګ ته چي توفيق ورکونکي او مدد کونکي هغه صرف الله تعالی دي نو جنګ اوکړئ بيا د ١٥ آيت نه پينځه قاعدی د جنګ ذکر کوی مرتّب په پينځه صفاتو د مؤمنانو او شپږمه پري تفريع کوی اوله قاعده ١٥ نه ١٩ پوري دويمه قاعده د ٢٢ نه ٣٣ پوري دريمه قاعده د ٢٤ نه ٢٦ پوري څلورمه قاعده ٢٧ کښي پينځمه قاعده ٢٩ کښي او په ٤٥ کښي پري شپږمه قاعده تفريع کوی په ماسبق باندي دويم باب د ٤٦ نه تر آخره پوري پديکښي آداب ارکانو ته او امير د جنګ ته سره د فائدو د آدابو نه په ٤٦ ، ٥٦

٦٠ ، ٦١ ، ٦٤ او ٧٠ کښي آداب او ترغيب جهاد مالی او بدنی او هجرت ته .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په بيان د قوانينو او اصولو د قتال سره د آدابو نه .

﴿سورة التّوبة﴾

سورتِ توبه مدنی سورت دي د نزول په ترتيب سره ١١٣ روستو د مائده او مخکښي د سورة النّصر نه نازل شويدي او ترتيبِ قرآنی په لحاظ سره نهم دي روستو د انفال او مخکښي د يونس نه .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي قوانين د جهاد ذکر شو اوس تعيين د مقتولينو يعنی جنګ به چا سره کوو .

﴿دعوی د سورت﴾

جنګ ته ترغيب او تعين د مقتولينو يعنی کومو خلقو سره به جنګ کيږی نو اول مشرکان او د هغوي قسمونه دويم اهل کتاب دريم منافقان او د جهاد قسمونه به هم ذکر کوی .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت څلور حصی دے اوله حصه ٢٨ پوري ده پديکښي اول قسم خلق ذکر کوی چي ورسره جنګ پکار دي چي هغه مشرکان دی او د هغوی قسمونه ذکر کوی اول قسم هغه دی چي چا سره وعدی شوی دی او وخت ندي مقرر دويم قسم چي وخت مقرر وی دا ذکر کوی په څلورم آيت کښي دريم قسم محاربين ذکر کوی

په ٥ آيت کښي او څلورم قسم هغه خلق دی چي امن اوغواړی دا په ٦ آيت کښي ذکر کوی او رکاوټونه موانع د جنګ ختموی او ورسره د جنګ وجه او علت ذکر کوی چي ولی ورسره جنګ پکار دي .

دويمه حصه د ٢٩ نه ٣٧ پوري پديکښي دويمه ډله ذکر کوی چي ورسره جنګ پکار دي چي هغه اهل کتاب دی يهود او نصاری او د هغوی پليتئ او خباثتونه ذکر کوی چي دوی مستحق د جنګ دی دريمه حصه د ٣٨ نه تر ٩٩ پوري ده پديکښي بيان د منافقانو چي جهاد کښي سستی کوی او د هغوی د شپيتو/٦٠ نه زياتی پليتئ ذکر کوی سره د زورنو نه څلورمه حصه د ١٠٠ نه تر آخره پوري پديکښي بيان د مؤمنانو او د هغوي قسمونه ذکر کوی اول قسم اولين سابقين چي د الله حکم ته مخکښي شويدی دويم قسم هغه دی چي روستو شوی د حکم نه خو توبه ئی زد اوويستله دا په ١٠٢ کښي دريم قسم هغه چي توبه کښي تاخير کړي په ١٠٦ کښي ترغيبات جنګ ته ورکوی او آخر کښي مسئله د توحيد ذکر کوی چي د کومی مسئلی دپاره جهاد کيږی .

﴿امتيازد سورت﴾

اقسام د مشرکانو ، علتونه د قتال ، د اهل کتابو او منافقانو پليتئ سره د قسمونو د مؤمنانو نه .

﴿سورت يونس﴾

يونس مکی سورت دي ترتيب نزولی په لحاظ سره يو پنځوستم/٥١ مخکښي د سورت هود او روستو د بنی اسرائيل نه نازل

شويدي او په ترتيب قرآنی لحاظ سره لسم/۱۰ دي روستو د توبه اومخکبني د هود نه .

### ﴿ربط د مخکبني سورت سره﴾

مخکبني قتال فی سبيل الله وو نو اوس هغه مسئله ذکر کوی چي د هغی دپاره قتال کيږی چي هغه مسئله د توحيد او رد د شرک دي .

### ﴿دعوی د سورت﴾

مقاصد اربعه ذکر کوی توحيد رسالت صداقة الکتاب او ايمان بالآخرة د ټولو قسمونو د شرک او د شرک په جرړه رد چي هغه عقيده د شفاعتِ قهريه ده .

(۲) رد شفاعت قهريه او د دينه شرکونه پيدا کيږی د هغي رد او مقاصد اربعه ته دعوت ورکوی .

### ﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت دوه حصی دي اوله حصه ۷۰ آيت پوري ده پديکښي رد د شفاعت قهريه په ۳ ، ۱۸ ، ۲۷ کښي او په توحيد باندي دلائل عقليه ذکر کوی سره د زورنو نه په انکار د مقاصدو باندي دويمه حصه د ۷۱ نه تر آخره پوري ده پديکښي دري واقعات ذکر کوی د نوح عليه السّلام او موسی عليه السّلام واقعی د تخويف دپاره چي د دي پيغمبرانو خلاف ئي کړي وو نو تباه شوی وو او سفارشيانو ورله هيڅ فائده ورنکړه او دريمه واقعه د قومِ يونس عليه السّلام د ترغيب دپاره چی ايمان او توحيد سبب د خلاصون او نجات دي په اخره رکوع کښي رد د شرک اعتقادی او داعی ته تسلّی .

## ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په رد د مرکزی شبه د مشرکانو چي هؤلآء شفعآءنا عند الله او په کلمه د فرعون .

## ﴿سورت هود﴾

هود مکی سورت دي ترتيب قرآنی په لحاظ سره يوولسم/۱۱ پس د يونس اومخکښي د يوسف نه او په نزول کښي دوه پنځوستم/۵۲ دي مخکښي د يوسف او روستو د يونس نه نازل شويدی .

## ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

په يونس کښي دلائل عقليه وو په توحيد باندي نو دلته په توحيد دلائل نقليه ذکر کوی او هلته وو چي شفيع فهری نشته دلته وائی ځکه عالم الغيب صرف الله دے .

## ﴿دعوی د سورت﴾

سورت کښي څلور مسئلی ذکر کيږی (۱) عبادت صرف د الله حق دي ، (۲) عالم الغيب صرف الله دي په ۵ ، ٦ کښي ، (۳) ترغيب الی التّبليغ چي مسئله اورسوه په ۱۲ کښي او (٤) تسلّي چي خفه کيږه مه تاسره دلائل دی په ۱۷ کښي .

## ﴿خلاصه د سورت﴾

اول ۲٤ آياتونو کښي څلور واړه مسئلی ذکر کوی او پدي د انبياء کرامو واقعات ذکر کوی په اوله مسئله واقع د نوح عليه السّلام د ۲۵ نه او واقعه د هود عليه السّلام په ۵۰ کښي او واقعه د صالح عليه السّلام په ٦۱ کښي او واقعه د شعيب عليه السّلام په

۸٤ کبني او په دويمه مسئله چي عالم الغيب صرف الله دي واقعه دابراهيم عليه السّلام په ٦٩ کبني او واقعه د لوط عليه السّلام په ۷۷ کبني چي هغوی د فرشتو د حاله خبر نشو او په دريمه مسئله چي مسئله اورسوه د ټولو انبياء کرامو واقعات کوم چي په اوله مسئله وو چي هغوی په بهادرئ مسئله رسولی وه او په څلورمه مسئله چي تسلّي ده واقعه د موسی عليه السّلام په ۹٦ کبني ذکر کوی د واقعاتو نه روستو يری او تلقين د کلکوالی دپاره امور مصلحه او آخری آيت کبني بيا څلور واړه مسئلې ذکر کوی .

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په وکان عرشه على المآء باندي .

﴿سورت يوسف﴾

يوسف مکی سورت دي ترتيب قرانی په لحاظ سره دولسم/۱۲ دي روستو د هود او مخکبني د رعد نه او ترتيب نزولی په اعتبار سره دري پنځوستم/٥٣ دي روستو د هود او مخکبني د حجر نه نازل شويدي .

﴿ربط د مخکبني سورت سره﴾

دلته په مسئلو د هود واقعه د يوسف ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

څلور مسئلې بيانوی (۱) عالم الغيب الله تعالی دي (۲) متصرّف او کارساز الله دي نو عبادت د الله حق دي (۳) صداقة الرّسول (٤) تسلّي پيغمبر ته چي ستا او د يوسف حال يو شان دي .

## ﴿خلاصه د سورت﴾

دا څلور واړه مسئلی د واقعی د یوسف علیه السّلام سره بیانوی دا پکښي اهمی او اصولي خبري دی چي اوګوره یعقوب او یوسف علیهما السّلام لوئی انبیاء دی خو په غیبو باندي نه پوهیږی او یوسف علیه السّلام په جیل کښي مسئله د توحید او رد د شرک فی العبادة کوی او دا واقعات چي ته بیانوی نو معلومیږی چي ته حق پیغمبر ئي او اوګوره د یوسف زندګئ ته د کوهی نه کوم ځائي ته اورسیدو او تسلی ساته ته به هم د دنیا حاکم او بادشاه شی خو داسي صبر اوکړه لکه چي یوسف کړي وو اول دری آیاتونو کښي صداقة د نبی علیه السّلام ذکر کوی بیا د ٦ نه تر ١٠١ پوری واقعه د یوسف علیه السّلام د دغه څلور عظیم مقصدونو دپاره بیا په ١٠٢ کښي صداقة د نبی علیه السّلام ذکر کوی زورنه اویری د دنیا ، ختم د سورت په ترغیب الی القرآن لکه په دي شروع شوي وو.

## ﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په لوبو مختصر او په تفصیلی واقعه د یوسف علیه السّلام.

## ﴿سورت رعد﴾

راجح دا ده چي دا مکی آخری دور سورت دي ترتیب قرانی کښي دیارلسم/١٣ دي پس د یوسف او مخکښي ابراهیم نه او ترتیب نزولی کښي شپږنوی/٩٦ نمبر دي مخکښي د رحمن او روستو د محمد نه نازل شویدي.

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

يوسف کښي نفی د شرک فی العلم او فی التّصرّف اوشوه نو دلته نفی د شرک فی الدّعاء ذکر کوی نو ټول شرکونه رد شو ، نو دا سورت تتمه د يوسف شوه .

**﴿دعوی د سورت﴾**

رد د شرک فی الدّعاء له دعوة الحقّ چي حاجتونه او مشکلاتو کښي صرف الله تعالی رامدد کړئ بل څوک نه .

**﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾**

د دي مسئلی د بيان دپاره سورت شپږ بابونه دي په دعوی باندي دلائل عقليه نقليه او وحيه ذکر کوی په مختلف طريقو باندی اول باب ۷ آيت پوري دي پديکښي اول ترغيب الی القران او په دعوی دلائل چي د هغي حاصل دي د هر څه پيدا کونکي يو الله تعالی دي دويم باب د ۷ نه ۱۵ پوري دي په دي کښي يو قسم دلائل چي عالم په هر څه الله دي او د هر څه حفاظت کونکي الله دي متصرّف او اختيار مند الله دي دريم باب ۲۵ پوري څلورم باب د ۲٦ نه ۳۲ پوري دي پديکښي بل قسم دلائل چي رازق لکلّ شئٍ هو الله د هر چا رازق الله دي بيا دعوی راوړی په ۳۰ کښي پنځم باب د ۳۳ نه ۳۷ پوري پديکښي بل قسم دلائل ذکر کوی چي نګران د هر څه صرف الله تعالی دي بيا دعوی په ۳٦ کښي قل انّما امرتُ ان اعبد الله شپږم باب د ۳۸ نه تر آخره پوري پديکښي تسلّی او دفع د شبهاتو ختم د سورت په صداقة د نبی عليه السّلام باندی .

### ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذکر کولو د دلائلو په عجيبه او ناشنا انداز باندي او په ذکر د ناشنا مؤمنانو.

### ﴿سورت ابراهيم﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي څوارلسم/۱٤ دي پس د رعد اومخکښي د حجر نه او ترتيب نزولی کښي دوه اوويايم/۷۲ نمبر دي پس د سورت نوح او مخکښي د انبياء نه نازل شويدي.

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

په رعد کښي مسئله په دلائلو سره واضحه شوه نو اوس ورته د تيرو واقعات ذکر کړه.

### ﴿دعوی د سورت﴾

ترغيب الی التّبليغ او طريقه د تبليغ چي وذکّرهم بايّام الله چي واقعات ورته بيان کړه چي د تيارونه رنړا ته راوځی د توحيد بيان دپاره تذکره د واقعاتو مفيده او ممدّه ده نو بيان کړه.

### ﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

د دي مسئلی د بيان دپاره سورت شپږ بابونه دي اول باب کښي تمهيد او آخری باب کښي خاتمه ده او مينځ کښي څلور بابونه په لفظ د اَلَم تَرَ سره ذکر دی اول باباتم ايت پوري دي پديکښي دعوی د سورت ده سره د مثال نه بيا اول ځل لفظ د الم تر د ۹ نه دويم باب دي پديکښي جګهړه د مشرکانو د انبياء سره نو الله ورسره څه اوکړل دا تر ۱۸ پوری بيا ۱۹ نه دويم ځل لفظ د الم تر دريم باب پديکښي جګهړه د مشرکانو پخپل مينځ کښي په

دوزخ كښي او ورسره احوال د آخرت دا تر ۲۳ پورى بيا د ۲٤ نه دريم ځل لفظ د الم تر او ځلورم باب دي پديکښي د موحّدينو او مشركينو مثالونه ذكر كوى دا تر ۲۷ پورى بيا ځلورم ځل لفظ د الم تر او پنځم باب د ۲۸ نه دي پديکښي زجر او تخويف د ۳۲ نه شپږم باب دي پديکښي خاتمه د سورت عقلى او نقلى دلائل او ختم په تخويف او آخر كښي دعوى د سورت چي هذا بلاغٌ لّلنّاس چي دا مسئله اورسوه .

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په تذكير بايّام الله باندى او په تقرير د شيطان باندى .

﴿سورت حجر﴾

حجر مكى سورت دي ترتيب قرآنى كښي پنځلسم پس د ابراهيم او مخكښي د نحل نه او په ترتيب نزولى كښي څلور پنځوستم /٥٤ دي روستو د يوسف او مخكښي د انعام نه نازل شويدي .

﴿ربط د مخكښي سورت سره﴾

د واقعاتو د بيان نه روستو يره نه منونكو ته رعد كښي تذكير بايّام الله وو نو اوس نه منونكو ته يره ذكر كوى .

﴿دعوى د سورت﴾

مجرمانو يره په عذاب د ښخوانو باندى يعنى چي چا د داعى مسئله نه ده منلى نو تباه شويدي .

## ﴿خلاصه او تقسیم د سورت﴾

د دي مسئلی د بیان دپاره سورت دري بابونه دي اول باب ۱۵ پوري دي پديکښي مقام د قرآن او افسوس د مجرمانو په توحید پسی او زجر دویم باب د ۱٦ نه تر ۵۰ پوری پدیکښي دلائل عقلیه چي صبا ارمان کوي نو نن اومنه کنه د حق نه کار واخله چي چا نده منلي نو د هغوی انجام دپاره واقعه د ابلیس په ۲۸ کښي دریم باب د ۵۱ نه تر آخره پوری پدیکښي پنځه نمونی د یری د دنیا دپاره ذکر کوی دري د پخوانو قومونو قوم لوط علیه السّلام ، أصحابالأیکة او ثمودیان او دوه نمونی د دي امت د اوسنو چي مقتسمین او مستهزئین دی ختم د سورت په تسلّئ باندی .

## ﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په وعده د حفاظت د قران په ۹ آیت کښي او په ذکر د مقتسمین او مستهزئین باندی .

## ﴿سورت نحل﴾

سورت نحل مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي شپاړلسم/۱٦ روستو د حجر او مخکښي د بنی اسرائیل نه او په ترتیب نزولی کښي اویایم/۷۰ نمبر دي روستو د کهف او مخکښي د نوح نه نازل شویدي .

## ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

چي مسئله نه منی نو عذاب د قحط پري راغـے د اخرت عذاب خو لا پریږده .

﴿دعوی د سورت﴾

په مجرمانو باندی د عذاب نازلیدل په اول آیت کښي نو مسئله د توحید د عذاب نه د بچ کیدلو ذریعه ده نو هغه به په تفصیل سره بیانوی چي دا مسئله اومنئ چی د عذاب نه بچ شئ .

﴿خلاصه او تقسیم د سورت﴾

سورت غټ دوه حصی دي اوله حصه تر ۱۱۳ پوري رد د شرک اعتقادی او مسئله د توحید په قسما قسم دلائلو باندی نو دي وجهي نه اوله حصه شپږ بابونه ده اول باب ۲۲ پوري پدیکښي په توحید یو قسم دلائل چي خالق د هر څه الله دي او عالم الله دي دویم باب د ۲۳ نه ۳۵ پوري پدیکښي زورنی او تخویفات او بشارت دریم باب د ۳٦ نه تر ٤٧ پوری پدیکښي دلیل نقلی اجماعی د ټولو انبیاء نه په توحید باندی او ترغیب هجرت ته او دلیل وحی څلورم باب د ٤٨ نه تر ٦٥ پوری پدیکښي بل قسم دلائل چي ټول ما ته دي محتاج رد په مشرکانو او د هغوی په رسمونو پنځم باب د ٦٦ نه تر ۸۳ پوري پدیکښي دی چي نعمتونه ټول د الله دی شپږم باب د ۸٤ نه تر ۱۱۳ پوری پدیکښي یره تسلّی او مثال د عمل د مشرک سره د ترغیب الی القران نه بیا دویمه حصه د ۱۱٤ نه تر آخره پوری پدیکښي رد په شرک فعلی ذکر کوی او ترغیب اتّباع د ملت ابراهیم ته او مسئلی رسولو ته ترغیب او په آخر کښي بشارت په معیت د الله تعالی باندی .

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذكر د جامع آيت باندی چي انّ الله يامر بالعدل والاحسان او په تذكره د مجئ باندی .

﴿سورت بنی اسرائيل﴾

مکی سورت دي ترتيب قرآنی کښي اوولسم/١٧ پس د نحل او مخکښي د کهف نه او ترتيب نزولی کښي پنځوستم/٥٠ نمبر دي پس د قصص اومخکښي د يونس نه نازل شويدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

نحل کښي د عذاب راتلل اوښودل نو دلته څلور اسباب ښائی چي د هغی د وجي نه عذاب راځی .

﴿دعوی د سورت﴾

بيان د څلور کارونو چي د هغی کونکي مستحق د عذاب ګرځی : (١) شرک مستمرّ (٢) د معجزاتو نه انکار (٣) اخراج الرّسل حق پرست د مکی نه ويستل (٤) الاستهزاء بالرّسل حق پرستو پوري ټوقی او خندنی کول .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت کښي څلور اسباب ذکر کوی چي د هغی کونکي مستحق د عذاب ګرځی اول شرک مستمرّ يعنی هميشه شرک کول او توبه تري نه ويستل نو دا سبب د عذاب ګرځی او د دي دوه نمونی يوه د بنی اسرائيلو په ٤ آيت کښي دويمه د قوم د نوح عليه السّلام دا دوه قومونه څکه هلاک شوی و چي دوی شرک نه توبه نه ويستله په ١٧ کښي بيا روستو اسباب د دفع د عذاب او زورنی په

انکار د مقاصدو ۵۸ پورې دویم سبب د عذاب هغه انکار د معجزو نه او بے عزتی د شعائر الله سبب د نزول د عذاب دي دا په ۵۹ کښي ذکر کوی تر ۷٦ پورې دریم سبب اخراج الرّسل حق پرست د کلو نه ویستل سبب د نزول د عذاب دي د ۷۷ نه څلورم سبب د نزول د عذاب استهزاء بالرّسل یعنی حق پرست پورې ټوقی کول سبب د نزول د عذاب دي اوګوره فرعون تباه شو او ختم د سورت په مسئله توحید باندی .

### ﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په واقعه د اسراء باندی .

### ﴿سورة الکهف﴾

مکی سورت دي ترتیب قرآنی کښي اتلسم/۱۸ روستو د بنی اسرائیل او مخکښي د مریم نه او په ترتیب نزولی کښي یو کم اوویایم/٦۹ نمبر دي پس د غاشیه او مخکښي د نحل نه نازل شویدي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

د دي ځائي نه د قران کریم دریمه حصه شروع کیږی د حصی د حصی سره مناسبت دا دي : چي مخکښي مسئله ده چي تربیت کونکي الله دي نو اوس دلته وائی چي خیرونه او برکتونه ورکونکي الله دي دا مسئله تر سورت سبا پوري ذکر کوی ربط د سورت د مخکښي سره دا دي چي مخکښي سورت کښي وو چی شرک سبب د عذاب دي نو دلته دفع د شبهاتو کوی .

﴿دعوى د سورت﴾

نفی د شرک فی العلم په دفع د شبهاتو کوی او نفی د شرک فی العبادة پري تفریع کوی.

﴿خلاصه د سورت﴾

اول اته ایاتونه تمهید دي دعوی ذکر کوی د قران مقام او بشارت او یره او بیکارتوب د دنیا ، بیا نفی د شرک فی العلم باندی واقعات ذکر کوی اوله واقعه د اصحاب کهف چي لوئی اولیاء وو خو په غیبو نه پوهیدل او نفی د علم غیب د نبی علیه السّلام نه د ۹ نه ۲۵ پوری د واقعی نتیجه په ۲٦ کښي د دنیا سپکوالي په دریو طریقو باندی ځکه د دنیا د وجي نه خلق د حق نه بندیږی اوله طریقه دا چي دنیا به درنه واخستي شی لکه چي د باغ والو نه ئی واخستله دویمه طریقه د دنیا وخت ډیر لږ دي په ٤٥ کښي دریمه طریقه دنیا به دربادی وبال شی په ٤٧ ، ٤٨ ، ٤٩ کښي بیا تحذیر د وسوسی د شیطان نه دا شیطان درته دنیا ښائسته کوی په ٥٠ کښي د ٦٠ نه نفی د علم غیب د موسی علیه السّلام او د خضر علیه السّلام نه ذکر کوی چی دا دواړه لوئی انبیاء دی خو په غیبو نه پوهیږی ځکه موسی علیه السّلام د خضر علیه السّلام په کارونو خبر نشو او خضر علیه السّلام وائی ما فعلتُه عن امری د ۸۲ ، ۸۳ نه نفی د علم غیب د ذو القرنین نه ذو القرنین نیک بادشاه وو خو په غیبو نه پوهیږی اوګوره د خلقو په خبرو نه پوهیږی په آخر کښي نفی د شرک فی العبادة پري تفریع کوی په ۱۱۰ کښي وائی چي بل څوک عالم الغیب نشته نو صرف د الله عبادت کوه د بل چا مه کوه.

### ﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په واقعه د اصحاب کهف او په واقعه د موسی علیه السّلام او خضر علیه السّلام او په واقعه د ذوالقرنین .

### ﴿سورت مریم﴾

مریم مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي نولسم/۱۹ پس د کهف اومخکښي د طه نه او په ترتیب نزولی کښي څلور څلویښتم/٤٤ دي مخکښي د طه او روستو د فاطر نه نازل شویدي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي سورت کښي نفی د علم غیب د نیکانو بندګانو نه وه نو دلته وائی چی عالم الغیب ندی نو متصرّف او اختیار مند هم ندی .

### ﴿دعوی د سورت﴾

د نیکانو بندګانو عاجزی ذکر کوی او پدی به مسئله تفریع کړی چي فاعبده واصطبر لعبادته .

### ﴿خلاصه او تقسیم د سورت﴾

سورت دري حصی دي اوله حصه د اول نه تر ٦٣ پوری پدیکښي عجز د انبیاء ذکر کوی زکریا ، یحیي ، عیسی ، ابراهیم ، موسی ، اسماعیل ، ادریس علیهم الصّلوات والتّسلیمات سره د بی بی مریم نه ټول د الله تعالی عاجزان وو احوال ئی وګوره دویمه حصه د ٦٤ نه ٦٥ پوری پدیکښي عجز د فرشتو ذکر کوی د دواړو حصو خلاصه په ٦٥ کښي ذکر کوی یعنی چي ټول خلق عاجزان دی نو

بندګئ صرف د الله اوکړئ دريمه حصه د ٦٦ نه تر آخره پورى پديکښي زورنى په انکار د مقاصدو ذکر کوى يره او بشارت.

**﴿امتياز د سورت﴾**

سورت ممتاز دي په تقرير د ابراهيم عليه السّلام خپل پلار ته او په تفصيلى واقعه د ولادت د عيسى عليه السّلام.

**﴿سورت طه﴾**

مکى سورت دي ترتيب نزولى کښي پنځه څلويښتم/٤٥ پس د مريم نه او په ترتيب قرانى کښي شلم/٢٠ دي پس د مريم او مخکښي د انبياء نه.

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي عاجزى د غوره خلقو ذکر شوه نو دلته وائى چي هغوى ته تکليفونه هم رسيدلى وو.

**﴿دعوى د سورت﴾**

چې دغه نيکانو ته تکليفونه رسيدلى وو نو دوى کارساز او متصرّف ندى او ورسره به تشجيع بهادرى وى تبليغ ته چې هغوى د مصيبتونو باوجود کلک وو نو تاسو هم کلک شئ.

**﴿خلاصه د سورت﴾**

اولى اياتونو کښي تمهيد دي مقصد ته لار سموى چي قران د لوئى الله تعالى د طرف نه راغلي دي نو که ددي په رسولو کښي تکليف راشى نو څه خبره ده د لوئى الله دپاره مصيبت برداشت کړه بيا د دي دپاره واقعه د موسى عليه السّلام ذکر کوى چې اوګوره موسى عليه السّلام څومره سختى برداشت کړى وه نو مسئله اورسوه

د ۹ نه تر ۹۷ پورې بیا مسئله د توحید چې د کومې مسئلې دپاره مصائب برداشت کول دی او بیا واقعه د آدم علیه السّلام چې مسئله هیروه هم مه لکه آدم او پریږده هم مه لکه شیطان چې د الله حکم پرینښودي وو آخر کښې حکمت د ارسال الرّسل ذکر کوی .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په دعاء د زیاتیدو د علم باندی او په ویسئلونک عن الجبال باندی .

﴿سورة الانبیاء﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښې یوویشتم/۲۱ نمبر پس د طه او مخکښې د حج نه او په ترتیب نزولی کښې دري اویایم/۷۳ پس د ابراهیم او مخکښې د مؤمنون نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکښې سورت سره﴾

مخکښې سورت کښې ئې ووئیل چې په نیکانو تکالیف راغلی وو عاجزان وو نو دلته وائی چې هغوی په تکالیفو کښې صرف یو الله تعالی رامدد کړي وو .

﴿دعوی د سورت﴾

رد د شرک فی الدّعاء چې صرف الله رامدد کړئ کهف کښې ووئیل چې دوی عالم الغیب ندی مریم کښې ئې ووئیل چې عاجزان دی په طه کښې ئې ووئیل چې تکالیف پرې راغلی وو نو دلته وائی حاجتونو کښې ئې صرف الله رامدد کړي وو .

### ﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت دري بابونه دي اول ٤٧ پورى پديکښي زورنى غافلينو ته د توحيد نه چى غير رامدد کوى نو هغوى ته زورنه او يرى او دلائل عقليه په توحيد او دليل نقلى اجماعى د انبياء کرامو نه په ٢٥ کښي دويم باب د ٤٨ نه ٩٦ پورى پديکښي د انبياء کرامو حالات او د هغوى اقوال ذکر کوى چي ټول الله تعالى ته عاجز وو او صرف الله ئى رامدد کولو اوپه ٩٠ کښي نتيجه ذکر کوى او په ٩٢ کښي هغوى پسى د اقتداء حکم دي دريم باب د ٩٧ نه تر آخره پوري پديکښي تخويف او صداقة د نبى عليه السّلام او منونکو ته بشارت .

### ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذکر د احوالو او اقوالو د انبياء کرامو باندى په ذکر د برهان تمانع باندى .

### ﴿سورة الحجّ﴾

مدنى سورت دي ترتيب قرانى کښي دوويشتم/٢٢ پس د انبياء او مخکښي د مؤمنون نه او په ترتيب نزولى کښي يوسل دريم/١٠٣ نمبر دي پس د سورت نور او مخکښي د منافقون نه نازل شويدي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي ئي ووئيل چى عالم الغيب او متصرّف الله دي نو دلته وائى چي منخته د الله په نوم کوئ .

## ﴿دعوى د سورت﴾

رد د شرک فعلی په وضاحت د څلورو مسئلو باندي تحريمات الله او نذور الله توحيد دي تحريمات العباد او نذور العباد شرک دي .

## ﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

د دي مسئلی د بيان دپاره سورت څلور بابونه دی اول باب ۱۰ پوری پديکښي يره او زورنه چی اويريږئ او شرک فعلی پريږدئ خطرناکه ورځ راروانه ده نو د شيطان تابعداری مه کوئ دويم باب د ۱۱ نه تر ۲۵ پوری مشرکانو ته زورنه او رد د شرک اعتقادی باندی دلائل عقليه يره او بشارت دريم باب د ۲٦ نه ۳۸ پوری پديکښي نفی د شرک فعلی په وضاحت د څلورو مسئلو باندی څلورم باب د ۳۹ نه تر آخر پوری د دواړو شرکونو د رد دپاره د جهاد او د هجرت حکم کوی دلائل عقليه او مثال د مشرک او آخر کښي امور مصلحه ذکر کوی د کلکون دپاره .

## ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په خطرناکئ د قيامت او په بيان د خطرناکئ د شرک په مثال د ذباب باندی .

## ﴿سورة المؤمنون﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي دريشتم/۲۳ پس د حج او مخکښي د نور نه او په ترتيب نزولی کښي څلور اويايم/۷٤ دي پس د انبياء نه او مخکښي د المٓ سجده نه نازل شويدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي رد د شرک وو نو دلته اثبات د توحيد کوی په دلائلو سره.

﴿دعوی د سورت﴾

اثبات د توحيد او رد د شرک.

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت پنځه بابونه دي اول باب ۱۱ پوری پديکښي د کاميابو خلقو صفتونه چې په توحيد کاميابي ده دويم باب د ۱۲ نه تر ۲۲ پوری پديکښي دلائل عقليه په توحيد باندی دريم باب د ۲۲ نه تر ۵۰ پوری پديکښي دلائل نقليه په توحيد او په رد د شرک اعتقادی باندی څلورم باب د ۵۱ نه ۷۷ پوری پديکښي په رد د شرک فعلی باندی دليل نقلی اجماعی او زورنه پنځم باب د ۷۸ نه تر آخره پوري پديکښي دلائل عقليه محضه او اعترافيه ذکر کوی په توحيد او په رد د شرک باندی آخر کښي تفصيل کوی.

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په صفتونو د کاميابئ باندی.

﴿سورة النّور﴾

مدنی سورت دي ترتيب قرانی کښي څليرشتم پس د مؤمنون او مخکښي د فرقان نه او په ترتيب نزولی کښي يوسل دويم نمبر دي مخکښي د حج او روستو د حشر نه نازل شويدی.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي اصلاح دعقيدی وه نو دلته اصلاح د عمل او د اخلاقو کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

د معاشری پليتی ختمول او رد په اوصافو د منافقانو باندی .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت دري بابونه دي اول باب ٣٤ پوری پديکښي دفع د فحشاء کوی اول رکوع کښي څلور قوانين د هغه پليتئ د دفع دپاره چي راغلی وی نو هغه ختم کړه په ٢ ، ٣ ، ٤ ، ٦ کښي بيا واقعه د افک ذکر کوی بيا اووه/٧ اداب چي د دي خيال اوساتئ چی پليتی رانشی اداب پدی آياتونو کښي دی ٢٧ ، ٣٠ ، ٣١ ، ٣٢ ، ٣٣ کښي دويم باب د ٣٥ نه ٥٧ پوری پديکښي مسئله د توحيد چی معاشره د دي مسئلی دپاره پاکه کړئ چی دا مسئله لکه د نمر اوځليږی او ترقی اوکړی په هغي قوانينو معاشره جوړوئ نو تاسو به کامياب يئ ختم د سورت په رد د شرک فی التّصرّف او فی العلم باندی .

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په واقعه د افک او په آية النّور باندی .

﴿سورة الفرقان﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي پنځويشتم او په ترتيب نزولی کښي دوه څلويښتم مخکښي د فاطر نه او روستو د يس نه نازل شويدي .

### ﴿ربط د مخکبني سورت سره﴾

مخکبني دفع د فحشاء وه اوس دفع د فحشاء د عمل کوی چی شرک فی البرکة دي داد شرک فعلی قسم دي .

### ﴿دعوی د سورت﴾

رد د شرک فی البرکة کوی .

### ﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت کبني دري ځله دعوی د تبارک ذکر کوی اول ځل نه روستو دلائل عقليه او زورنی په انکار د مقاصدو ذکر کوی او اعتراضونه په داعی باندی دويم ځل دعوی په ۱۰ کبني بيا د اعتراضونو جوابونهاو تخويف ذکر کوی سره د بشارت او تسلی نه او ۳۵ نه يری د دنيا نمونی او دلائل عقليه چي برکت ورکونکي صرف الله تعالی دي دريم ځل دعوی په ٦١ کبني د هغي نه روستو وائی چي د آخرت برکتونه هم د الله په اختيار کبني دی او پدي صفتونو ئی ورکوی ختم د سورت په تخويف باندی .

### ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذکر د دعوی تبارک دري ځله او په انّ قومی اتّخذوا هذا القران مهجورًا .

### ﴿سورة الشّعراء﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کبني شپږويشتم/۲٦ پس د فرقان او مخکبني د نمل نه او په ترتيب نزولی کبني ٤٧ پس د واقعه او مخکبني د نمل نه نازل شويدي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي دعوى د تبارک وه نو دلته په هغى نقلى دلائل ذکر کوى .

### ﴿دعوى د سورت﴾

د مؤمنانو او د منکرينو هلاکت او په دعوى د تبارک دلائل نقليه يو مقصد پکښي دا دي چي تسلّي مقصود ده چى ستا مسئله چا اونه منله نو هغه به الله تباه کړى او چى چا اومنله نو هغوى له به الله نجات ورکړى او دويم مقصد پکښي دا چى دا مسئله ټولو انبياء کړيده او نقلى دلائل به هم وى .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء کښي ترغيب الى القرآن او زورنه په انکار باندى او عقلى دليل په مسئله د برکت باندى بيا د ۱۰ نه تر ۱۹۱ پوري د اووه/۷ انبياء کرامو واقعات چي دوى هم دا مسئله بيان کړيده چا چي منلى وه نو هغه بچ شوى وو او چا چى نه وه منلى نو هغه تباه شوى وو نو آخر نجات ورکونکي الله تعالى دي اخرى رکوع کښي دليل وحى او صداقة د قران او د نبى عليه السّلام او ترغيب بيان ته سره د يرى نه.

### ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په خطبه د تقريرونو دانبياء باندى او په هره واقعه پسى دوه آياتونه انّ فى ذالک لايةً او ورپسى بل آيت .

## ﴿سورت نمل﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي اوويشتم/۲۷ دي پس د شعراء او مخکښي د قصص نه او په ترتيب نزولی کښي اته څلويښتم پس د شعراء او مخکښي د قصص نه نازل شويدي .

## ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي په دعوی د تبارک نقلی دليلونه وو نو دلته د هغي علّت او وجه ذکر کوی چي هغه عالم الغيب دي او سلامتيا هغه ورکوی نو هغه په خير او برکت باندي پوهيږی نو برکت او سلامتيا ورکوی .

## ﴿دعوی د سورت﴾

دوه مسئلی ذکر کوی چی عالم الغيب الله دي او سلامتيا الله ورکوی .

## ﴿خلاصه د سورت﴾

اول شپږ اياتونه تمهيد دي پديکښي صداقة د قران او بيا څلور واقعات ذکر کوی دوه واقعی په اوله مسئله چی عالم الغيب الله دي اوله واقعه د موسی عليه السّلام د ۷ نه چي اوګوره موسی عليه السّلام خبر نشو د همسا او نورِ الهی ته نار وائی دويمه واقعه د سليمان عليه السّلام چی اوګوره سليمان وو پيغمبر خو د بلقيس او هُدهُد د حاله نه وو خبر دا د ۱۵ نه تر ٤٤ پوري بيا د ٤٥ نه دريمه واقعه تر ۵۳ پوري په دويمه دعوی باندی څلورمه واقعه د ۵٤ نه تر ۵۸ پوری چی لوط عليه السّلام لره سلامتيا چا ورکړه او د دي نتيجی راوړی د آخری دوه واقعاتو نتيجه ذکر کوی په ۵۹ کښي په فقل

الحمد لله سره بیا دلائل چی متصرّف الله دي او بیا په ٦٥ کښي د اولنی دوه واقعاتو نتیجه ذکر کوی بیا زورنی منکرینو د قران ته او روستو به پری تفریع اوکړی او ترغیب الی التّبلیغ او اخر کښي بیا نتیجه راوړی .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په تذکره د هُدهُد او په تعریف د اله او په تذکره د میږی .

﴿سورة القصص﴾

مکی سورت دي ترتی قرانی کښي اته ویشتم/٢٨ پس د نمل او مخکښي د عنکبوت نه او په ترتیب نزولی کښي یو کم پنځوستم/٤٩ دي مخکښي د بنی اسرائیل او روستو د نمل نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي مسئله د توحید ذکر شوه نو اوس تشجیع فی التّبلیغ یعنی اوس ئې په بهادرئ سره اورسوه .

﴿دعوی د سورت﴾

تشجیع فی التبلیغ مع التسلی د سختی نه بعد به راحته راشی دا د الله قانون دي د موسی علیه السّلام د واقعی نه عبرت واخله .

﴿خلاصه او تقسیم د سورت﴾

سورت دوه حصی دي اوله حصه ٤٣ پوری پدیکښي واقعه د موسی علیه السّلام د تسلئ دپاره چي کامیابی ستا ده او ستا د ملګرو ده اګر که په ظاهره کښي کمزوری يئ او ترغیب الی التبلیغ

لکه د موسی مسئله اورسوه دویمه حصه د ٤٣ نه اخره پوری دیکښي مقاصد اربعه ذکر کوی چي دا مسئله اورسوه او تزهید من الدّنیا په واقعه د قارون باندی او اخری رکوع مرتّب په سر د سورت باندی چي ستا حال په شان د حال د موسی دي .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په هجرت د موسی علیه السّلام مدین ته او پ تذکره د سیاست فرعونی چي خلق ډلی ډلی کړه او سیاست کوه .

﴿سورت عنکبوت﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یوکم دیرشم/٢٩ پس د قصص او مخکښي د روم نه او په ترتیب نزولی کښي پنځه اتیایم/٨٥ دي پس د روم او مخکښي د مطففین نه نازل شویدي د مکی دور آخری سورت دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

قصص کښي تشجیع فی التبلیغ وه نو دلته وائی چی امتحانات به راځی نو برداشت کوه .

﴿دعوی د سورت﴾

د مؤمنانو ازمیښت او د منکرینو هلاکت ، ابتلاء المؤمنین وهلاک الجاحدین .

﴿خلاصه د سورت﴾

اول څلور آیاتونو کښي دواړه دعوی ذکر کوی بیا د ٥ نه ٢٧ پوری اول دعوی سره متعلق ایاتونه چی امتحانات به راځی او د

امتحان قسمونه چی اول امتحان د نفس د طرفه په ٦ کښي دويم د مور او پلار د طرفه په ٨ کښي دريم امتحان د غلطو ليډرانو د طرفه په ١٢ کښي نو امتحان به څومره وی ؟ نو په ١٤ کښي واقعه د نوح او امتحان به څنګه وی ؟ نو واقعه د ابراهيم عليه السّلام چی اور ته دانګل او ګلي پريښودل په ١٦ کښي بيا د ٢٨ نه دويمه دعوی سره متعلق آياتونه چی منکرين تباه شويدي د هغي نمونی ذکر کوی ٤٠ پوری بيا مثال د اعتماد د مشرک په ٤١ کښي امور مصلحه اخر کښي ترغيب الی الهجرة په عجيبه انداز سره او بشارت چی څوک تکليفونه برداشت هغوی ته .

**﴿امتيازد سورت﴾**

سورت ممتاز دي په تفصيل د امتحان باندی سره د ذکر د مُدی د تبليغ د نوح عليه السّلام .

**﴿سورت الرّوم﴾**

مکی سورت دي ترتيب قرانی ديرشم /٣٠ پس دعنکبوت او مخکښي د لقمان نه او په ترتيب نزولی کښي څلور اتيايم/٨٤ دي مخکښي د عنکبوت او پس د انشقاق نه نازل شويدي .

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي د امتحاناتو تذکره وه نو دلته وائی چي فتح به الله درکوی .

**﴿دعوی د سورت﴾**

بشارت او زيري په فتح باندي .

## ﴿خلاصه د سورت﴾

د ابتداء نه يو تاريخى پس منظر او زيري مؤمنانو ته د كاميابئ وركوى او دعوى سره د ليل نه په ٨ كښي چى الله تعالى ته فتح څه ګرانه ده ؟ بيا ١٧ نه مسئله د توحيد او په هغى قسما قسم دلائل عقليه ذكر كوى چى دا د فطرت مسئله ده دا اومنئ پديكښي كاميابى ده او كاميابى شوه نو داخوره كړئ . اخر كښي تسلى ده چى خپل وخت ته انتظاركوه فاصبرصبركوه همّت مه بائيله كاميابى ستاده.

## ﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په يو تاريخى پس منظر باندى .

## ﴿سورت لقمان﴾

مكى سورت دي ترتيب قرانى كښي يو ديرشم /٣١ پس د روم او مخكښي د الم سجده نه او په ترتيب نزولى كښي اووه پنځوستم/٥٧ دي مخكښي د سبا او روستو د صافات نه نازل شويدي .

## ﴿ربط د مخكښي سورت سره﴾

مخكښي بشارت وو چى كاميابى ستا ده نو دلته هغه مسئله ذكر كوى چى په كومه مسئله كاميابى راځى .

## ﴿دعوى د سورت﴾

مسئله د توحيد په دليل عقلى نقلى او وحيي سره .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

په ابتداء کښې د قران مقام او منونکو د دې مسئلې ته زيري او نه منونکو ته يره بيا دلائل عقليه او نقليه د لقمان حکيم نه او دليل وحيي ذکر کوی په توحيد باندې او دلائلو نتيجه په ۳۰ کښې او سورت ختموی په اثبات د علم الغيب باندې چې عالم الغيب صرف الله تعالى دې نو هغه مستحق د هر قسم تعظيم دې .

**﴿امتيازد سورت﴾**

سورت ممتاز دې په تذکره د لقمان او په ذکر د غيوب خمسه باندې .

**﴿سورت الٓمّ سجده﴾**

مکی سورت دې ترتيب قرانی کښې دوه ديرشم پس د لقمان او مخکښې د احزاب نه او په ترتيب نزولی کښې پنځه اويايم/۷۵ مخکښې د طور او پس د مؤمنون نه نازل شويدې .

**﴿ربط د مخکښې سورت سره﴾**

مخکښې سورت کښې مسئله د توحيد وه نو دلته رد د شفاعت قهريه کوی .

**﴿دعوى د سورت﴾**

رد د شفاعت قهريه .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

اول د قران مقام ذکر کوی چې د لوئی کتاب په حواله دا مسئله کبرى او دلائل عقليه په دعوى ذکر کوی د ٤ نه زورنه يره او زيري ذکر کوی او د منونکو او نه منونکو مقابله او دليل نقلی

د موسی علیه السّلام نه په دعوی باندی په ۲۳ کښي او ترغیب برداشت د مصیبتونو ته په دعوی باندی چی صبر د امامت ذریعه ده .

### ﴿امتیاز د سورت﴾

په صبر او یقین او مستری ملاویږی د دي بیان بالصّبر والیقین تنال الامامة فی الدّین .

### ﴿سورت احزاب﴾

مدنی سورت دي ترتیب قرانی کښي دري دیرشم/۳۳ دي پس د الم سجده نه او مخکښي د سبا نه او په ترتیب نزولی کښي نوی/۹۰ نمبر دي مخکښي د ممتحنه او روستو د ال عمران نه نازل شویدي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي سورت کښي رد د شفاعت قهریه وو نو دلته هم رد دي په شفاعت قهریه په طریقه د امثله سره .

### ﴿دعوی د سورت﴾

ترغیب تبلیغ ته او اطاعت د رسول علیه السّلام ته چي مسئله اورسوئ او د نبی علیه السّلام اومنئ .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

سورت کښي څلیریشت/۲٤ خطابونه دي دولس خطابونه نبی علیه السّلام ته او دولس خطابونه امت ته ذکر کوی نبی علیه السّلام ته خطابونه پدی ایاتونو کښي دی : ۱ ، ۱ ، ۲ ، ۷ ، ۲۸ ، ۳۷ ، ۳۸ ، ٤٥ ، ۵۰ ، ۵۲ ، ۵۹ ، ۷۰ نبی علیه السّلام ته د خطابونو حاصل : اے محبوبه د عقیدی اهمه مسئله رد د شفاعت قهریه او د عمل

اصلاح او د غلطو رسمونو رد په مايوحى سره اوکړه او دا غلط رسمونه په ما يوحى سره ختم کړه د الله لحاظ کوه د کافرو او منافقانو مشورى مه منه ستا نه الله د دى وعده اخستى ده چى د خپل کور اصلاح کوه چى الله درله ځه رواه کړى دى نو هغى کښي د مخلوق لحاظ مه ساته او امت ته خطابونه پدى اياتونو کښي دى : ٦ ، ٩ ، ٢١ ، ٣٠ ، ٣٣ ، ٣٤ ، ٣٦ ، ٤٠ ، ٤١ ، ٦٣ ، ٦٩ ، ٧٠ امت ته د خطابونو حاصل دا دي : اے مؤمنانو پيغمبر په تاسو ډير مهربانه دي هغه ستا دعقيدى او د عمل اصلاح کوى د ده منئ نو الله به ستاسو مدد کوى اوګوره هغه قائد دي ميدان کښي ولاړ دي د هغه په قدم قدم کيږدئ خاص امت د هغه کور والا دى هم د هغه سره د رسمونو په ختمولو کښي مرسته اوکړئ او مخالف له نيغ جواب ورکړئ که زړه کښي ستاسو څه خبره راځى چي دي ولى دا رسم ختموى نو د هغى بخښنه غواړئ د پيغمبر د ايذاء خيال زړه کښي رانه ولئ ځکه د هغه په همّت خو فرشتي او الله آفرين وائى نو تاسو پرى هم آفرين اووايئ او د پيغمبر په اطاعت کښي کاميابى ده .

## ﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په څليريشت/٢٤ خطابونو دولس نبى عليه السّلام او دولس امت ته .

## ﴿سورت سبا﴾

مکى سورت دي ترتيب قرانى کښي څلور ديرشم/٣٤ دي پس د احزاب او مخکښي د فاطر نه او په ترتيب نزولى کښي اته پنځوستم/٥٨ دي مخکښي د زمر او پس د لقمان نه نازل شويدي .

﴿ربط د مخکښې سورت سره﴾

د دي ځائي نه د قران څلورمه حصه شروع کيږی په اعتبار د فهم سره د حصی د حصی سره ربط دا دي : مخکښې د کهف نه مسئله د برکت ذکر شوه تر دي ځائي پوري اوس د دی ځائی تر آخره پوری مسئله د مالکيت ذکر کوی چي اختيار مند په دنيا او په اخرت کښې صرف الله دي نو تر آخره پوری به دوه مسئلې ذکر کوی اوله رد د شفاعت قهريه او دويمه مسئله د قيامت اثبات به ذکر کوی نو د دی وجی نه الحمد لله دوه ځله ذکر ده د سبا په اول کښې او د فاطر په اول کښې ځکه هره حصه په الحمد لله سره شروع شويده او ربط د مخکښې سورت سره دا دي چی مسئله سورت کښې رد د شفاعت قهريه وو په مثالونو سره نو دلته دفع د شبهاتو د ملائکو او د داود او سليمان عليهما السّلام نه کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

رد د شفاعت قهريه په دفع د شبهاتو .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت دوه حصی دي اوله حصه دوه بابونه ده اول باب ۹ پوری پديکښې مقاصد اربعه ذکر کوی دويم باب د ۱۰ نه ۲۱ پوری پديکښې دفع د شبهاتو چی داود او سليمان عليهما السّلام شفارسيان دی نو د هغې جواب او نفی د علم غيب د جناتو نه او يره د دنيا ذکر کوی دويمه حصه د ۲۲ نه تر اخره پوری پديکښې د شرک جړه غوځوی د څلورو وجوهاتو نه شرک پيدا کيږی نو هه څلور جړی د شرک په ۲۲ او ۲۳ کښې رد کوی بيا طريقی د تعليم

او نبي عليه السّلام ته ترغيب د بيان او کثرت د زجرونو نه منونکو ته سره د تخويفاتو نه .

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذکر د قوم سبا په حالاتو او په نفی د علم غيب د جناتو نه .

﴿سورت فاطر﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي پنځه ديرشم/٣٥ پس د سبا او مخکښي د يس نه اوپه ترتيب نزولی کښي دري ځلويښتم /٤٣ دي مخکښي د مريم اوروستو د فرقان نه نازل شويدی .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي سورت کښي اووئيل چی دغه نيکان عاجزان او فقيران دی نو دلته وائی چی دوی په حاجتونو کښي صرف الله رامدد کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

رد د شرک فی الدّعاء چی حاجتونو کښي صرف يو الله رامدد کړئ بل څوک نه .

﴿خلاصه د سورت﴾

اول دعوی د توحيد ذکر کوی چی ټول صفتونه د خدائيتوب د الله دی نو حاجتونو کښي صرف هغه ته رامدد شه او وائی پدی مسئله باندی ديارلس دلائل عقليه ذکر کوی اول دري دليلونه بيان کړی نو ورپسی دعوی ذکر کوی چی لا اله الّا هو بيا روستو

دلائل شروع کړی نو په ۱۳ کښي ورپسی بیا دعوی د توحید ذکر کوی بیا روستو دلیلونه او زورنه ذکر کوی .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په اقسامو د فرشتو او د غرونو او په قسمونو د قران واله .

﴿سورت یس﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي شپږدیرشم/۳٦ پس د فاطر او مخکښي د صافات نه او په نزول کښي ٤۱ پس د جن او مخکښي د فرقان نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي دلائل عقلیه په رد د شرک فی الدعاء وو نودلته نقلی دلائل ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

رد د شفاعت قهریه کوی .

فائده :- دي سورت ته د قران زړه وائی ځکه دیکښي د شرک زړه او مونږ رد کوی چی هغه عقیده د شفاعت قهریه ده .

﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه صداقت د نبی علیه السّلام او صداقة د قران او منونکو او د نه منونکو بیان دویمه رکوع کښي نمونه د تخویف دنیوی او دلیل نقلی په رد د شفاعت قهریه باندی سره د عجز د الهه باطله نه دریمه رکوع کښي دلائل عقلیه په دعوی باندی او زورنه

څلورمه رکوع کښې يرى او بشارت او پنځمه رکوع کښې بيا دلائل او عجز د الهه باطله او نتيجه د دلائلو په قل من بيده ملكوت كلّ شيءٍ سره .

**﴿امتيازد سورت﴾**

سورت ممتاز دي په واقعه د صاحب يس باندى .

**﴿سورت صافات﴾**

مكى سورت دي ترتيب قرانى کښې اووه ديرشم/۳۷ پس د يس او مخکښې د ص نه او په ترتيب نزولى کښې شپږ پنځوستم/٥٦ دي مخکښې د لقمان او روستو د انعام نه نازل شويدي .

**﴿ربط د مخکښې سورت سره﴾**

مخکښې رد د شفاعت قهريه وو نو دلته عجز د ټول مخلوق ذكر كوى چې ټول مخلوق عاجز دي .

**﴿دعوى د سورت﴾**

بيان د عجز د ټول مخلوق .

**﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾**

سورت دري بابونه دي اول باب د ابتداء نه ۷۳ پورى پديکښې عجز د فرشتو او پيريانو ذکر کوى بيا تفصيلى يره او خوشحالى د اخرت ذکر کوى دويم باب د ۷٥ نه تر ۱٤۸ پورى پديکښې عجز د انبياء كرامو چې ټول په سلامتيا کښې محتاج دى الله ته نوح ، ابراهيم ، موسى ، هارون ، الياس ، لوط ، يونس عليهم السّلام واقعات ذکر کوى چې دا ټول په سلامتيا کښې الله ته محتاج دى دريم باب د ۱٤۹ نه تر اخره پورى دا متعلق دي د سر د سورت

عجز د فرشتو او جناتو دوباره ذکر کوی او بشارت د دنيا ذکر کوی او سورت ختموی په توحيد باندی .

**﴿امتيازد سورت﴾**

سورت ممتاز دي په ذکر د احوالو د ملائکو او په ذبح د اسماعيل باندی .

**﴿سورت ص﴾**

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي اته ديرشم/۳۸ او په نزول کښي هم اته ديرشم/۳۸ دي مخکښي د اعراف او روستو د قمر نه نازل شويدي .

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي سورت کښي وو چي ټول الله ته محتاج او عاجزه وو نو دلته وائی چي مصيبتونه پری راغلی وو لکه د طه .

**﴿دعوی د سورت﴾**

پدی سورت کښي د نيکانو ازميښت او امتحان ذکر کيږی .

**﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾**

سورت دري بابونه دي اول ۱٦ پوری پديکښي زورنه په انکار د مقاصدو او اعتراضات د مشرکينو دااصل کښي امتحان د نبی دي چی په هغه باندی حق په لاره کښي داسی سختئ راغلي وی دويم د ۱۷ نه ۷۰ پوری پديکښي امتحانات د انبياء کرامو ذکر کوی د جليل القدر انبياء تذکره کوی د داوړ ، سليمان او د ايوب عليهم السّلام تفصيلی امتحان ذکر کوی او د ابراهيم ، اسحاق او

يعقوب ، اسماعيل ، يسع او د ذالكفل تذكره په لنډو كوى چي دا هم الله ته محتاج وو بيا بشارت او يره دريم باب د ٧١ نه تر آخره پورى پديكبني عجز د ملائكو ذكر كوى او نتيجه د هغه چا چي د حق نه ئې ځان اوچت ګنړلي وو ختم په ترغيب الى القران لكه پدى شروع شوي وو.

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ابتلاء المصطفين او په سر كبني په لفظ د ص باندى .

﴿سورت زمر﴾

مكى سورت دي ترتيب قرانى كبني يو كم څلويښتم/٣٩ او په نزول كبني يو كم شپيتم/٥٩ دي پس د سبا او مخكبني د مؤمن نه نازل شويدي .

نوټ : احقاف پورى نزولى ترتيب كبني يو بل پسى دي .

﴿ربط د مخكبني سورت سره﴾

مخكبني عاجزى او ابتلاء د مخلوق ذكر شوه نو دا سورت پرى تفريع كوى چى هر كله مخلوق عاجزان دى او مصيبتونه پرى راغلى دى نو عبادت صرف د يو الله اوكړه فاعبد الله مخلصًا له الدّين.

﴿دعوى د سورت﴾

عبادت صرف د يو الله حق دي دا دعوى په مختلفو طريقو ذكر كوى لكه : ٦ ، ١١ ، ٣٨ ، ٤٦ ، ٦٢ ، ٦٦ كبني .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت پنځه بابونه دي اول باب ۲۰ پورى دويم ۳۷ پورى دريم ٤٦ پورى څلورم ٦۲ پورى پنځم تر آخره پورى ذکر کوى په هر باب کښي دعوى ذکر کوى او په هغي دلائل عقليه په زبردست انداز سره او تقابل او صفات د منونکو او د نه منونکو او ترغيب قران کريم ته دا هم ټولو بابونو کښي ذکر کوى .

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په الله يتوفّى الانفس حين موتها باندى .

﴿سورت مومن يا غافر﴾

مکى سورت دي ترتيب قرانى کښي څلويښتم/٤٠ او په نزول کښي شپيتم/٦٠ دي پس د زمر او مخکښي د حم سجده نه نازل شويدى .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي ئې ووئيل چى فاعبد الله مخلصًا له الدّين نو دلته د هغه دعوى وضاحت کوى چى فادع الله نو مخکښي ايّاک نعبد شو او دا وروسته وايّاک نستعين شو .

﴿دعوى د سورت﴾

رد د شرک فى الدّعاء او اثبات د توحيد فى الدّعاء کوى چي فادع الله مخلصين له الدّين دي .

﴿خلاصه د سورت﴾

د ابتداء نه ١٤ پورى اهميت د دعوى ذکر کوى په پنځه طريقو سره بيا دعوى او يره د اخرت او دنيا او د يرى د دنيا مثال چى اوګوره فرعونيان څنګه تباه شو او ترغيب رسولو د مسئلى ته په ذکر

د رجل مؤمن باندی روستو بیا په دعوی دلائل عقلیه ذکر کوی چی صرف الله رامدد کړه نه بل څوک.

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په اهتمام د دعوی او په ذکر د تقریر د رجل مؤمن په ښائسته انداز سره.

﴿سورت حم سجده﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو څلویښتم/٤١ او په نزول یو شپیتم/٦١ پس د مؤمن او مخکښي د شوری نه نازل شویدی.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي مسئله وه فادع الله مخلصین له الدّین نو دلته هم هغه مسئله کوی خو بدفع الشّبهات الاربعة.

﴿دعوی د سورت﴾

مسئله د توحید او رد د شرک فی الدعاء او د مشرکانو د شبهاتو جواب کوی.

﴿خلاصه د سورت﴾

سورت کښي د څلورو شبهاتو جواب کوی د ابتداء نه ترغیب الی القرآن چی دا مسئله د لوئی کتاب په حواله کیږی اوله شبه په ٥ کښي چی مونږ ستا په خبره نه پوهیږو ځکه ته مُلا ئی او مونږ امیان یو د هغی جواب په ٦ کښي چي زه ستاسو غوندی بنده یم او آسانه مسئله کوم بیا په مسئله دلیلونه او یره ذکر کوی دویمه

شبه په ۲۵ کښې چې یره جی دوی په خوب کښې راځی او کله راته
په ویخه ځان ښکاره کړی نو ته وائي څنګه مدد نشی کولي نو د دي
جواب کوی چې دا کار د شیطان دي دا درته په خوب کښې شیطان
درځی لکه په ځوانئ کښې درته په خوب کښې د ځان نه ښکلې
جینئ جوړه کړی بیا زورنه یره او بشارتونه ذکر کوی دریمه شبه په
٤٤ کښې چې دا مسئلی ته د ځان نه جوړوی ځکه ته هم عربې ئې او
کتاب دي هم عربې دي که دا عجمی وو نو مونږ به منلي وي نو ددي
جواب چې بیا به مو وئیل چې ءاعجمیٌّ وعربیٌّ څلورمهشبه په ٤٥
کښې چې په یو ځل ولی نه راځی جواب چې موسی علیه السّلام له په
یو ځل راغلي وو نو انکار تري شوي وو دا ستاسو هسی بهانه ده .

﴿امتیاز د سورت﴾

جواب د څلور شبهاتو او د مشرکانو څلور شبهات .

﴿سورت شوری﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښې دوه څلویښتم /٤٢ او په
نزول کښې دوه شپیتم/٦٢ روستو د حم سجده او مخکښې د زخرف
نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکښې سورت سره﴾

مخکښې داسی شبهات کول چې مسئله ظاهره نشی اوس
داسی شبهات ذکر کوی چې هغي سره دا مسئله بدنامه شی .

﴿دعوی د سورت﴾

رد د شبهات ثلاثه دري شبهی د مشرکانو رد کوی .

﴿خلاصه د سورت﴾

دري شبهات او د هغی جوابونه کوی په طریقه د بغیر د لحاظ ساتلو د ترتیب نه اوله شبه په ۳ کښي ده چی ته پدی مسئله کښي یواځی ئې بل چا دا مسئله نده کړی د هغی جواب ۳ او په ۱۳ کښي چی ټولو انبیاء کرامو ته هم دا وحی شوی وه دویمه شبه چی په تیرو کتابونو کښي ستا خلاف عبارتونه میلاویږی یعنی تیر کتابونه ستا خلاف دی د هغی جواب په ۱۰ او ۱۷ کښي او ۵۷ کښي چی د الله کتاب به فیصله کوی دریمه شبه په ۱٤ کښي چي علماء او ملایان ستا خلاف دی د هغی جواب چی دا خلق باغیان دی د ټولو انبیاء کرامو دغه مسئله ده دا جوابونه په ۱۳ ، ۱۵ او ۲۱ کښي ذکر کوی .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په اقسامو د انسانانو او په اقسامو د وحی او په یو ایت کښي په لس جملو باندی .

﴿سورت زخرف﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي دري څلویښتم/٤۳ او په نزول کښي دري شپیتم/٦۳ مخکښي د دخان او پس د شوری نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي دري شبهات رد کړل اوس د مرکزی شبهی ردّ کوی.

﴿دعوی د سورت﴾

د مشرکینو د مشهوری شبهی رد .

## ﴿خلاصه د سورت﴾

د مشرکینو مرکزی شبه رد کوی په ۸٦ کښي دا شبه په قسما قسم طریقو سره کوی چی مونږ دا نه وایو چی دوي مالکان دی دا خو زمونږ سفارشیان دی مونږ دوی ته وایو نو دوی الله وائی دا مرکزی شبه ده خو د دی نه مخکښي وړی شبهی دی دا هسی دی دوی دا غټه شبه پټوی اول وړه شبه چی مونږ د پلارانو منو ۲۲ کښي د دي جوابونه په ۲٤ او ۲٦ کښي چی خپل اباء اوپیژنه دویم وړه شبه چی لولا انزل هذا القرآن ۳۱ کښي د دي جواب کوی دریمه وړه شبه چی مونږ ته مشرانو وئیلی دی د دي جواب په ٤٥ کښي بیا د اصل شبهی جواب کوی په ۸٦ کښي دا مخکښي تمهید او په ۸٦ کښي مقصد .

*تمنا مختصر بھی تھی مگر تمہید طولانی*

## ﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په دی ایت اَوَمَنْ يُّنَشَّأُ فِى الْحِلْيَةِ .

## ﴿سورة دخان﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي څلور حلویښتم/٤٤ او په نزول کښي څلور شپیتم/٦٤ پس د زخرف او مخکښي د جاثیه نه نازل شویدي .

## ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

په زخرف کښي د مشرکانو مرکزی شبه (چی دوی زمونږ سفارشیان دی) رد شوه نو دلته بله شبه رد کوی چی دوی د ځان

خلاصولو دپاره كوی چی مونږ دوی ته وایو او دوی به الله ته پیش كوی او كنه دوی اوری .

﴿دعوی د سورت﴾

انّه هو السّمیع العلیم یعنی رد د دی شبهی چی كیدي شی دوی زمونږ واوری .

﴿خلاصه د سورت﴾

د مشركینو د شبهی جواب كوی چی كه دوی سفارش نه شی كولي نو مونږ دوی ته وایو نو دوی به ئی واوری اخوا كه الله ته پیش كوی او كنه د دي جواب په ٦ كښي چي بے د اسبابو اوریدونكي صرف الله دي بیا یره د دنیا او د هغی مثال بیا د اخرت یره او خوشحالی او سورت ختموی په ترغیب الی القران .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذكر د دخان مبین باندی .

﴿سورت جاثیه﴾

مكی سورت دي ترتیب قرانی كښي پنځه څلویښتم/٤٥ او په نزول كښي پنځه شپیتم/٦٥ پس د دخان او مخكښي د احقاف نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکبني سورت سره﴾

مخکبني شبه رد شوه چې مونږ دوی ته وایو دوی اوری نو دلته بله شبه رد کوی چې دوی وائی دا زمونږ د پلاز نیکه طریقه ده او د هغوی کارونه به پری کیدل .

﴿دعوی د سورت﴾

رد د شرک فی الدعاء سره د رد د شبهی نه .

﴿خلاصه د سورت﴾

په سورت کبني د مشرکانو یوه زړه شبه رد کوی چې دوی وائی چې دا زمونږ د پلار نیکه طریقه ده هغوی به غیر الله رامدد کولو نو کارونه به ئی کیدل بس هم دوی رامدد کوو اوری او که نه اوری خو زمونږ کارونه پری کیږی د دي جواب په ۱۸ کبني چې ته د یو شریعت او قانون پابند ئي د دي وجي سورت اول نه دلائل عقلیه ذکر کوی چې خبره په دلیل کوه او د قران مقام ذکر کوی ۲۰ کبني چې د پلار نیکه منی او که د قران به منی یره او زورنه هم ذکر کوی او سورت ختموی په توحید باندی .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په دی ایت چې تری کلّ امّةٍ جاثیة .

﴿سورة احقاف﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کبني شپږ څلویښتم/٤٦ او په نزول کبني شپږ شپیتم/٦٦ پس د جاثیه او مخکبني د ذاریات نه نازل شویدي .

### ﴿ربط د مخكبني سورت سره﴾

مخكبني سورت كبني د دوى شبه رد شوه چې دوى وئيل دا زمونږ د پلار نيكه طريقه ده نو دلته اخرى شبه رد كوى چې دوى وائى مونږ د دوى نوم په دعا كبني اخلو نو د دوى په رامدد كولو كبني څه نه څه فائده شته .

### ﴿دعوى د سورت﴾

رد د اخرى شبهې د مشركانو .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

مسئله بالكل واضحه شوه نو دلته اوس د مشركانو نه مطالبه د دليل كوى په ٤ كبني وائى چې دوى سره دليل نشته او غير الله رامدد كوى نو په ٥ كبني پري فتوى ذكر كوى بيا زورنه او ترغيب منلو ته او دليل نقلى د هود عليه السّلام نه په ٢١ كبني بيا جواب د شبهې چې دوى وائى چې د دوى بلنه د بركت نه خالى نده مونږ چې دوى نوم دعا كبني واخلو نو د خير نه خالى نه وى د هغې جواب په ٢٨ كبني چې د پخوانو مدد ئي ولى نه وو كړي بيا واقعه د جناتو د ترغيب دپاره چې جناتو اومنله او تاسو نه منئ اخر كبني ترغيب رسولو د مسئلې ته چې د حواميم دا سبق اورسوه او صبر كوه .

### ﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په تقسيم د اولاد دوه قسمو ته سره د رد د شبهې نه .

## ﴿سورة محمّد﴾

مدنی سورت دي ترتیب قرانی کښي اووه څلویښتم/٤٧ او په نزول کښي پنځه نوی/٩٥ دي مخکښي د رعد او روستو د حدید نه نازل شویدي .

## ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

په حوامیم کښي مسئله پوره شوه او ټول شبهات رد شو نو تبلیغ باللسان اوشو چي اوس هم نه منی نو څټونه تری اووهئ .

## ﴿دعوی د سورت﴾

قتال فی سبیل الله په څلور آیت کښي اعلان د جهاد کوی .

## ﴿خلاصه او تقسیم د سورت﴾

سورت دوه بابونه دی اول باب ١٩ پوری پدیکښي دعوی په ٤ ایت کښي او د کافرو تقریبًا اتلس/١٨ پلیتئ ذکر کوی چی دغه پلیتئ او علتونه د جنګ دی جنګ ورسره اوکړئ په ١٩ کښي هغه مسئله ذکر کوی چی د کومی دپاره جنګ کیږی چی هغه توحید دي دویم باب د ٢٠ نه تر آخره پوري پدیکښي زورنی منافقانو ته او د هغوی پلیتئ چی جهاد کښي سستی کوی او تزهید من الدّنیا او ترغیب الی الانفاق ذکر کوی .

## ﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذکر د نهرونو د جنت او په تقابلاتو باندی .

﴿سورة الفتح﴾

مدنى سورت دي ترتيب قرانى كښي اته څلويښتم/٤٨ او په نزول كښي يوسل يوولسم/١١١ مخكښي د مائده او روستو د جمعه نه نازل شوي دي .

﴿ربط د مخكښي سورت سره﴾

په محمّد كښي اعلان د جهاد وو نو دلته اعلان د فتح كوى.

﴿دعوى د سورت﴾

البشارة العظمى بفتح الكبرى په لويه فتح لوئى زيري .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

اول څلور وعدى د فاتح اعظم صلّى الله عليه وسلّم سره او زيري مؤمنانو ته كاميابئ او يره منافقانو ته او دويمه ركوع كښي پليتئ د منافقانو بيا دوباره مؤمنانو ته زيري او د مؤمنانو زبردست اوصاف او بشارت اخروى .

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په زبردست مثال د صحابه كرامو او په واقعه د صلح حديبيه باندى .

﴿سورة الحجرات﴾

مدنى سورت دي ترتيب قرانى كښي يوكم څلويښتم/٣٩ او په نزول كښي يوسل شپږم/١٠٦ مخكښي د تحريم او روستو د مجادله نه نازل دي .

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي زيري د فتح وو نو اوس قوانين ذکر کوی چی کله فتح ملاو شوه نو پدی قوانينو زندګی تيروه .

**﴿دعوی د سورت﴾**

قوانين د اصلاح او اتّفاق د مؤمنانو .

**﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾**

د ابتداء نه تر ۱۳ پوري اووه/۷ اداب بيانوی چی تنظيم برابروی اداب پدی اياتونو کښي دی : ۱، ۲ ، ٦ ، ۹ ، ۱۱ ، ۱۲ ، ۱۳ بيا د ١٤ نه زورنی هغه چا ته چی دا احکام نه عملی کوی ختم د سورت په توحيد چی تنظيم د دی مسئلی دپاره جوړيږی .

**﴿امتيازد سورت﴾**

سورت ممتاز دي په فرق په مينځ د اسلام او ايمان کښي اوپه ذکر د اداب سبعه .

**﴿سورت ق﴾**

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي پنځوستم/۵۰ او په نزول کښي څلور ديرشم/۳٤ دي پس د مرسلات اومخکښي د بلد نه نازل شويدي .

**﴿ربط د مخکښي د سورت سره﴾**

مخکښي سورت کښي قوانين ذکر شو اوس اثبات د قيامت کوی بطور تخويف اخروی د منکرينو دپاره .

**﴿دعوی د سورت﴾**

اثبات د قيامت په ۱۱ کښي کذالک الخروج .

### ﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

سورت دوه بابونه دي اول باب د ابتداء نه ۱۵ پورى پديکښي اثبات د قيامت په قدرتونو د الله تعالى باندى چى عالم دي په ٤ کښي او قادر دي په ۷ کښي نو داسى ذات ته قيامت څه ګران دي او د تخويف دنيوى نمونى ذکر کوى د ١٦ نه دويم پديکښي اول علم د الله ذکر کوى بيا يرى ذکر کوى سره د بشارت نه او مسئله د توحيد ذکر په ۳۹ او ٤٠ کښي او دعوى د سورت په ٤٢ کښي او سورت ختموى په ترغيب الى القران باندى چي په کومه شروع شوي وو.

### ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز په يوم نقول لجهنّم باندى ، او په لفظ د ق په اول سر کښي او په جګهړه د قرينين په اخرت کښي .

### ﴿سورة الذّاريات﴾

ترتيب قرانى کښي يو پنځوستم/٥١ او په نزول کښي اووه شپيتم/٦٧ دي مخکښي د غاشيه او پس د احقاف نه نازل دي مکى سورت دي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي اثبات د قيامت وو نو دلته هم اثبات د قيامت کوى خو دلته ورسره شواهد هم ذکر کوى نو ترقى شوه د ادنى نه اعلى ته .

### ﴿دعوى د سورت﴾

اثبات د قيامت او په هغى شواهد او مسئله د توحيد .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

د ابتداء نه شواهد په اثبات د قيامت باندی بيا يره او خوشحالی او دلائل عقليه په اثبات د قيامت باندی او پنځه نمونی د تخويف دنيوی ذكر كوی او په اخری ركوع كښي دلائل عقليه د قدرت د الله تعالی او مسئله توحيد چی د كومی دپاره پيدائش د انسان شويدي .

### ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په اثبات د قيامت په شواهد اربعه باندی .

### ﴿سورة الطّور﴾

مكی سورت دي ترتيب قرانی كښي دوه پنځوستم/٥٢ او په نزول كښي شپږ اويايم/٧٦ پس د سجده نه او مخكښي د ملک نه نازل دي .

### ﴿ربط د مخكښي سورت سره﴾

مخكښي صرف دلائل عقليه وو نو دلته دري واړه دلائل راوړی نقليه وحيه او عقليه .

### ﴿دعوی د سورت﴾

واقع كيدل د عذاب په قيامت كښي په ٦ی او ٧ كښي دعوی ذكر ده .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

په ابتداء كښي عقلی نقلی او وحی دليلونه په دعوی د سورت بيا يره او بشارت مؤمنانو ته دويمه ركوع كښي زورنی په انكار د مقاصدو او سورت ختموی په تسلّئ او په توحيد باندی .

### ﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په لفظ دالم پنځلس/۱۵ ځله او په ذکر د بيت المعمور باندی .

### ﴿سورة النّجم﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي دري پنځوستم/۵۳ او په نزول کښي دريشتم/۲۳ مخکښي د عبس او پس د اخلاص نه نازل دي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي دري سورتونو کښي اثبات د قيامت وو نو دلته نفی د شفاعت قهريه کوی .

### ﴿دعوی د سورت﴾

نفی د شفاعت قهريه .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

اول رکوع يو باب دي پديکښي اول صداقة د نبی عليه السّلام چی دا کومه خبره او دعوی بيانيږی نو دا څه ګپ ندي دا مسئله داسي حق پيغمبر کوی بيا په شرک او په سفارشيانو باندی رد چی تاسو سره څه دليل نشته رد په مشرکين بالعباد الصّالحين د ۲۶ نه دويم باب پديکښي رد په مشرکين بالملائکة کوی بيا زورنه ده او زورنه په انکار د مقصد او سورت ختموی په توحيد باندی .

### ﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په صداقة د نبی په واقع د معراج باندی .

## ﴿سورة القمر﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي څلور پنځوستم/٥٤ او په نزول کښي اووه ديرشم/٣٧ مخکښي د ص او روستو د طارق نه نازل دي .

## ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي رد د شفاعت قهريه وو نو دلته دري سورتونو کښي رد د شرک فی البرکة کوی .

## ﴿دعوی د سورت﴾

انّا کلّ شيءٍ خلقناه بقدرٍ په ٤٠ کښي .

## ﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه اثبات د قيامت او يره د مسئلی نه منونکو ته بيا د تخويف دنيوی پنځه نمونی ذکر کوی بيا ٤٣ نه روستو کافرانو ته زورنی او يره او دعوی د سورت په ٤٩ کښي او سورت ختموی په بشارت مؤمنانو ته .

## ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په معجزه د شقّ القمر باندی او په ذکر د ولقد يسّرنا القران للذّکر باندی .

## ﴿سورت رحمن﴾

مدنی سورت دي ترتيب قرانی کښي پنځه پنځوستم/٥٥ او په نزول کښي اووه نوی/٩٧ مخکښي د دهر او پس د رعد نه نازل دي .

## ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي ئې ووئيل چي هر څيز الله په اندازه پيدا کړيدي نو دلته وائی چي په هر څيز کښي الله خيرونه هم اچولی دی نو خيرونه او برکتونه هم د الله نه غواړه تبارک اسم ربّک .

﴿دعوی د سورت﴾

تبارک اسم ربّک ذی الجلال والاکرام چی هر څه کښي خيرونه اچونکي صرف الله دي .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

دري رکوع دی دري مسئلی ذکر کوی اول رکوع کښي برکتونه دينيه چی قران دي او د دنيا برکتونه او په هغی دلائل عقليه ذکر کوی تر ۳۰ پوری بيا دويمه رکوع کښي د ۳۱ نه ٤٥ پوری نه منونکو ته يره د اخرت ذکر کوی او دريمه رکوع د ٤٦ نه منونکو د مسئلی ته تفصيلی بشارت ذکر کوی ختم د سورت په مسئله د برکت باندی چی دليلونه يری او خوشحالئ د دی مسئلی دپاره دی .

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په فبایّ الآء ربّکما تکذّبان باندی ۳۱ ځله .

﴿سورة الواقعة﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي شپږ پنځوستم/٥٦ او په نزول کښي شپږ حلويښتم/٤٦ پس د طه او مخکښي د شعرآء نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي مسئله د برکت وه چی تبارک اسم ربّک نو دلته هم مسئله د برکت ذکر کوی په ترقئ سره چی فسبّح باسم ربّک العظیم چی د الله نوم پاک اوګنړه بل د برکت والامه ګنړه.

﴿دعوی د سورت﴾

فسبّح باسم ربّک العظیم.

﴿خلاصه د سورت﴾

د ابتداء نه اثبات د قیامت او د قیامت علامات بیا د خلقو دري قسمونه او د هغوی د بدلی تفصیل ذکر کوی خوشحالی منونکو ته او یره نه منونکو ته ٥٦ پوری بیا دلائل عقلیه د برکت ذکر کوی په طریقه د زورنی سره د ٥٨ نه ٧٣ پوری او دعوی پري تفریع کوی په ٧٤ کښي بیا صداقة د قران چی دا د لوئی کتاب په حواله کیږی بیا هغه دري قسمه خلق او دعوی د سورت ذکر کوی.

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په لا یمسّه الّا المطهّرون باندی.

﴿سورة الحدید﴾

مدنی سورت دي ترتیب قرانی کښي اووه پنځوستم/٥٧ او په نزول کښي څلور نوی/٩٤ مخکښي د محمد او روستو د زلزال نه نازل شویدي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي د توحید مسئله ذکر شوه نو دلته د توحید دپاره د جهاد او انفاق مسئله ذکر کوی.

﴿دعوى د سورت﴾

د دي ځائې نه تر تحريم پورى مسئله د انفاق او جهاد ذكر كوى دا سورت دټولو دپاره ديباجه ده نو ځكه پديكښي دواړه مسئلې بيانوى .

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

دوه حصى دي اوله ٢٤ پورى پديكښي مسئله د انفاق فى سبيل الله ذكر كوى اول مسئله د توحيد چې د كومى دپاره جهاد او انفاق كيږى د ٧ نه ترغيب انفاق ته په پنځو وجهو سره اوله وجه په ٧ كښي چي دا مال خو ستا ندي دا خو د الله دي نو الله له وركړه دويمه وجه ١٠ كښي كه ستا وى نو بيا هم الله ته پاتى كيږى نو وركړه كنه دريمه وجه په ١١ كښي چي څه الله له ئې قرض وركړه بيا بشارت او يره او ترغيب په ٢٠ كښي څلورمه وجه چې دنيا وخت لږ دي او دنيا لږه ده نو ځان له پرى اخرت اوګټه پنځمه وجه په ٢٢ كښي كه ته وائي چې ما ضرورت له ايخودى ده نو مال ضرورت نشى دفع كولي دفع كونكي الله ديدريمه حصه د ٢٥ نه تر اخره پوري پديكښي قتال فى سبيل الله ذكر كوى او ترغيب دي جهاد ته چې ملنګى خلقو راويستى ده جهاد وكړئ .

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذكر د فائدو د حديد وانزلنا الحديد .

## ﴿سورة المجادلة﴾

مدنی سورت دي ترتیب قرانی کښې اته پنځوستم/٥٨ او په نزول کښې يو سل پنځم/١٠٥ مخکښې د حجرات او پس د منافقون نه نازل دي .

## ﴿ربط د مخکښې سورت سره﴾

مخکښې ترغيب الى الانفاق والجهاد وو نو دلته زورنه ده منافقانو ته چې دوی د مسلمانانو تنظيم خرابوی .

## ﴿دعوی د سورت﴾

زجر منافقانو ته چې د مسلمانانو جماعت خرابوی .

## ﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه رد په رسمِ باطل چې منافق وړوکی تنظيم د کور هغه خرابوی اوګوره ښځی ته ئي مور وئيلي وو او بيا ئي اخلى نو دا رسمِ باطل ختم کړئ اوځُله سمه خوزوئ زورنه مخالفينو ته بيا منافقانو ته دري زورنی په لفظ د الم سره ٧ ، ٨ ، ١٤ او مؤمنانو ته دري قاعدی په لفظ د يا ايّها الّذين امنوا سره دپاره د ويستلو دمنافقانو د جماعت نه اخر کښې اعلان د بائيکاټ د کافرو نه .

## ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په رد د رسم باطل .

## ﴿سورة الحشر﴾

مدنی سورت دي ترتيب قرانی کښې يو کم شپيتم/٥٩ او په نزول کښې يو سل يو/١٠١ نمبر دي پس د بيّنة او مخکښې د نور نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي زجرونه وو منافقانو ته نو دلته زجر سره د دنیا یره هم ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

چی څوک د الله او د رسول علیه السّلام مخالفت کوی هغوی ته تخویف دنیوی .

﴿خلاصه د سورت﴾

مسئله د توحید ذکر کوی چی پدی کلک شوئ نو دشمن به درله تباه کړم ؟ نه نمونه د تخویف دنیوی بیا مصارف د مال فئ ذکر کوی چی دشمن دی تباه شو او مال درته پاتی شو نو څه به ورسره کوي ؟ دویمه رکوع کښي منافقانو ته زجر ذکر کوی دریمه رکوع کښي ترغیب مؤمنانو ته د قران او مسئله د توحید چی د کومی دپاره جهاد کیږی .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په اول الحشر او په غزوه بنو نظیر باندی .

﴿سورة الممتحنة﴾

مدنی سورت دي ترتیب قرانی کښي شپیتم/٦٠ اوپه نزول کښي یو نوی/٩١ مخکښي دنساء او پس د احزاب نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي یره د دنیا وه نو دلته وائی چی کله دوی تباه کیږی نو بائیکاټ اوکړه .

﴿دعوى د سورت﴾

د الله د دشمنانو نه بائيکاټ او زجر هغه چا ته دوى سره دوستى کوى.

﴿خلاصه او تقسيم د سورت﴾

دوه بابونه دي اول ٦ پورى پديکښي اعلان د بائيکاټ او نمونه د بائيکاټ ذکر کوى چې د ابراهيم په نقش قدم روان شه دويم دويمي رکوع نه اول تسلى بيا قسمونه د کافرانو چې چا سره دنياوى معاملات جائز دى او چاسره ناجائز دى بيا دوه قاعدى ذکر کوى يوامت ته او بله نبى عليه السّلام ته اوپه اخر کښي بيا اعلان د بائيکاټ پشان د اول سر.

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په امتحان د مؤمنانو زنانو او په بيعت د هغوى.

﴿سورة الصّف﴾

مدنى سورت دي ترتيب قرانى کښي يو شپيتم/٦١ او په نزول کښي يو سل نهم/١٠٩ مخکښي د جمعه او پس د تغابن نه نازل دي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي بائيکاټ وو د کافرو سره نو دلته وائى چې جنګ ورسره اوکړى.

﴿دعوى د سورت﴾

ترغيب الى الجهاد او فرائض د مجاهدين او د سرفروشان اسلام سره د زورنى نه چې هسى خبرى کوى او کار نه کوى.

﴿خلاصه د سورت﴾

مؤمنانو ته دري تقريرونه په يا ايّها الّذين امنوا سره اول سر كښي زورنه چې ولی عمل نه كوی جهاد كونكی د اللّٰه خوښ دی د بنی اسرائيلو نمونه مه كيږئ د دی مجاهد پيغمبر زيري عيسی عليه السّلام وركړي او پدی جهاد به دين غالب كيږی دويم خطاب ١٠ كښي كه اخرت گټل غواړئ نو جهاد اوكړئ دريم خطاب ١٤ كښي لكه د حواريّون د اللّٰه د دين مدد اوكړئ اللّٰه غلبه دركړی .

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په انّ اللّٰه يحبّ الّذين يقاتلون فی سبيله الخ

﴿سورة الجمعة﴾

مدنی سورت دي ترتيب قرانی كښي دوه شپيتم او په نزول كښي يو سل لسم/١١٠ مخكښي د فتح او پس د صف نه نازل شويدي.

﴿ربط د سورت﴾

مخكښي ترغيب الی الجهاد وو نو اوس ترغيب الی الانفاق ذكر كوی .

﴿دعوی د سورت﴾

ترغيب الی الانفاق العلمی يا فرائض د علماء .

﴿خلاصه د سورت﴾

د ابتداء نه د توحيد او رسالت مسئله ذكر كوی چې دا اومنی لكه د يهودو مه كيږئ چې هغوی انكار اوكړو دويمه ركوع كښي ترغيب دي چې جماعتونو ته حاضريږئ چې د دين د ترغيب خبره اورئ او علماء كرامو له پكار دی چې د انفاق او د دين

خدمت دپاره ترغيب ورکړی دنيا طرفته توجه مه کوئ ، دين ته توجّه اوکړئ.

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په کمثل الحمار او په ذکر د جمعه باندی .

﴿سورة المنافقون﴾

مدنی سورت دي ترتيب قرانی کښي دري شپيتم/٦٣ او په نزول کښي يو سل څلورم/١٠٤ مخکښي د مجادله او پس د حج نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي مسئله د انفاق ذکر شوه اوس هغو خلقو ته زورنه ورکوی چی هغوی د انفاق نه بندوی .

﴿دعوی د سورت﴾

زجر هغه خلقو ته چی خلق هم دانفاق نه بندوی او پخپله هم انفاق نه کوی .

﴿خلاصه د سورت﴾

د ابتداء نه د منافقانو پليتئ ذکر کوی دويمه رکوع کښي مؤمنانو ته ترغيب چی تاسو د منافقانو غوندی نشئ تاسو د مرګ نه مخکښي خرچ اوکړئ .

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په کانّهم خشبٌ مسنّدةٌ باندی .

﴿سورة التّغابن﴾

مدنی سورت دي ترتیب قرانی کښي څلور څلویښتم/٤٤ او په نزول کښي یو سل اتم/١٠٨ دي پس د تحریم او مخکښي د صف نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي انفاق او جهاد وو نو دلته مقاصد اربعه ذکر کوی چی د کومو دپاره جهاد او انفاق کیږی .

﴿دعوی د سورت﴾

مقاصد اربعه سره د ترغیب نه جهاد او انفاق ته .

﴿خلاصه د سورت﴾

دوه حصی دي اوله رکوع کښي اوله حصه ده پدیکښي بیان د مقاصد اربعه توحید ، رسالت ، صداقة الکتاب او ایمان بالاخرة کوی چی کومو مسئلو دپاره جهاد او انفاق کیږی دویمه حصه د ١١ نه تر اخره پوری پدیکښي جهاد او انفاق ته ذکر کوی چی د دغه مسئلو دپاره جهاد او انفاق اوکړئ .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په نوم د قیامت په یوم التّغابن سره .

﴿سورة الطّلاق﴾

مدنی سورت دي ترتیب قرانی کښي پنځه شپیتم/٦٥ او په نزول کښي یو کم سلم/٩٩ مخکښي د بیّنه او روستو د دهر نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي مسئله د جهاد وه اوس د تنظيم د اصلاح دپاره امر اصلاحی ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

مقاصد اربعه او اصلاح المعاشرة .

﴿خلاصه د سورت﴾

اول رکوع کښي اول باب اصلاح د معاشری کوی دپاره د جهاد چی کور سم وی نو جهاد به کيږی دويمه رکوع کښي دويم باب پديکښي مقاصد اربعه ذکر کوی چی د کومو د ترقئ دپاره تنظيم جوړيږی په عکس د تغابن باندی يعنی هلته اول مقاصد اربعه وو بيا جهاد او انفاق او دلته اول جهاد او انفاق بيا مقاصد .

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په فوائد خمسه د تقوی باندی .

﴿سورة التّحريم﴾

مدنی سورت دي ترتيب قرانی کښي شپږ شپيتم/٦٦ او په نزول کښي يو سل اووم/١٠٧ مخکښي د تغابن او روستو د حجرات نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سره﴾

مخکښي ترغيب الی اصلاح المعاشرة وو اوس وائی چی د تنظيم خيال ساتئ هسی نه چی د تنظيم نه مو نوم کټ شی .

﴿دعوی د سورت﴾

دا سورت د تیرو سورتونو د حدید نه بعد د ټولو خلاصه ده یعنی جهاد او انفاق دواړه ذکر کوی .

﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه مؤمنانو ته ترغیب دي چې نبی علیه السّلام مه ناراضه کوئ ګنی د تنظیم نه به مو نوم کټ شی ازواج مطهرات ئی نمونه ده بیا په ٦ کښې اصلاح د کور او ترغیب توبې ته که څه د ایذاء خبره شوی وی نو توبه اوباسئ بیا ترغیب جهاد او انفاق ته نورهم یسعی د حدید مضمون دي ، او جاهِدو وروسته مضمون دي بیا مثالونه چې اصل څیز اتّباع ده بغیر د اتّباع نه رشته د مؤحّد مفید نده او سره د اتّباع د پیغمبر نه رشته د کافر مضر نده.

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په واقعه د تحریم او په صفاتو د ملائکو د جهنّم باندی .

﴿سورة الملک﴾

مکی سورت دي ترتی قرانی کښې اووه شپیتم/٦٧ او په نزول کښې اووه اویایم/٧٧ مخکښې د حاقه او روستو د طور نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښې سورت سره﴾

مخکښې بیان د جهاد او انفاق وو اوس هغه مسئله ذکر کوی چې د هغې دپاره جهاد او انفاق کیږی هغه رد د شرک دي دا به سورت جن پوري ذکر کیږی .

**﴿دعوى د سورت﴾**

تبارک الّذی بیده الملک چی برکت اچونکي صرف الله دي.

**﴿خلاصه د سورت﴾**

په رد د شرک فی البرکة يوولس/١١ دلائل عقليه ذکر کوی يعنی مشرکان د غير الله په نوم يولسمه ورکوی چی زمونږ څاروو کښي برکت راشی د يولسمی د رد دپاره يولس دلائل ذکر کوی چی برکت ورکونکي صرف الله دي د دي اولني دليل عام دي نور خاص دی يعنی د اسمان يا د زمکی وغيره برکتونه پکښي ذکر کيږی : ١، ١ ، ٢ ، ٣ ، ٥ ، ١٣ ، ١٥ ، ١٩ ، ٢٣ ، ٢٤ ، ٣٠ ديکښي دلائل دی په مينځ کښي يری بشارتونه او زورنی ذکر کيږی .

**﴿امتيازد سورت﴾**

سورت ممتاز دي په قهر او غصه د دوزخ باندی .

**﴿سورة القلم﴾**

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي اته شپيتم/٦٨ او په نزول کښي دويم پس د علق او مخکښي د نزول نه نازل دي .

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي مسئله د برکت ذکر شوه او رد د شرک اوشو نو اوس وائی چی دا مسئله په بهادرئ سره اورسوه .

**﴿دعوى د سورت﴾**

ترغيب تبليغ ته او يره سستی کونکو ته په مسئله کښي .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه صداقة د نبی علیه السّلام چی ته حق پیغمبر ئی ستا ذمه واری غتہ ده بیا یره ورکول د مداهنت نه چی څوک دِ سستوی نو د هغوی خبره مه منئ او نه منونکو ته یره د دنیا ذکر کوی په مثال سره بیا یره د اخرت او اخر کښي تسلّی داعی ته چی کار کوه کامیابی ستا ده .

### ﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په انّک لعلی خُلُقٍ عظیمٍ باندی او په واقعه د باغ والا باندی .

### ﴿سورة الحاقّة﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یوکم اوویایم/٦٩ او په نزول کښي اته اویایم/٧٨ روستو د ملک او مخکښي د معارج نه نازل دي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي ترغیب الی التبلیغ وو نو دلته نه منونکو ته یره .

### ﴿دعوی د سورت﴾

تخویف دنیوی اجمالًا اواخروی تفصیلًا .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه اثبات د قیامت او چی چا نه وه منلی نو د هغوی حال اوګوره تباه شو او نمونی د عذاب ذکر کوی ١٢ پوري بیا د قیامت احوال او خوشحالی منونکو ته او یره نه منونکو ته او اخری رکوع کښي صداقة د قران او د نبی علیه السّلام چی دا

مضمون څه ګپ ندي سورت ختموی په توحيد چی دا مسئله د نجات ذريعه ده .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په نوم د قيامت په حاقه سره .

﴿سورة المعارج﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي اويايم/۷۰ او په نزول کښي يو کم اتيايم/۷۹ پس د حاقه او مخکښي د نبأ نه نازل شوي دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

دا سورت تفصيل د حاقه کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

زجر نه منونکو ته سره د يری نه په تفصيل سره .

﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه زورنه چی دا اوګوره ټوقی کوی او عذاب غواړی بيا د قيامت يره ذکر کوی چی هيڅ څيز دِ نشی بچ کولي د ۲۲ نه د بچ کيدلو اعمال ذکر کوی اخری رکوع کښي زورنی او يره ده .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په فی يومٍ کان مقداره خمسين الف سنةٍ .

﴿سورة نوح﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي يو اويايم/۷۱ او په نزول کښي هم يو اويايم/۷۱ دي مخکښي د ابراهيم او پس د نحل نه نازل دي .

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي يره د اخرت نو اوس يره د دنيا ذکر کوی .

**﴿دعوی د سورت﴾**

تخويف دنيوی سره د دليل نقلی نه .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

سورت واقعه د نوح عليه السّلام ذکر کوی د غټو مقصدونو دپاره چی دا مسئله اورسوه لکه نوح عليه السّلام چی رسولی ده که دوی نه منی نو تباه به شی لکه د قومِ نوح چی هغوی تباه شوی وو اول رکوع دعوت د نوح عليه السّلام ترغيبونه او دليلونه دويمه رکوع کښي د قوم عناد او تباهی ذکر کوی .

**﴿امتياز د سورت﴾**

سورت ممتاز دي په بد دعاء د نوح عليه السّلام خپل قوم ته.

**﴿سورة الجنّ﴾**

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي دوه اويايم/۷۲ او په نزول کښي ثلويښتم مخکښي د يس او روستو د اعراف نه نازل دي .

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي نقل وو د نوح عليه السّلام نه نو دلته نقل دي د جنّاتو نه .

**﴿دعوی د سورت﴾**

نفی د شرک اعتقادی د ټولو اقسامو نه .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

قران ته ترغیب او نقل د جناتو نه او بیان د جناتو کښي اثبات د مقاصد اربعه او رد د شرک اعتقادی کوی او ترغیب توحید او قران ته اخری رکوع کښي د شرک اعتقادی ټول قسمونه رد کوی او پکښي ترغیب دي چې جناتو اومنله نو تاسو هم اومنئ .

**﴿امتیاز د سورت﴾**

سورت ممتاز دي په واقعه د جناتو باندی .

**﴿سورة المزّمّل﴾**

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي دري اویایم/۷۳ او په نزول کښي دریم پس د قلم او مخکښي د مدثر نه نازل دي .

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي د شرکونو رد اوشو نو اوس وائی چې د قران نه توحید زده کړه او په قران ملګری تیار کړه.

**﴿دعوی د سورت﴾**

ترغیب الی القران .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

سورت کښي داعی ته ترغیب دي درس قران او د شپې ملګرو د تیارولو او د تعلق الهی ترغیب او د توحید بیان سره د صبر نه او تخویف دنیوی اخری رکوع کښي تفصیل د اولنو ایاتونو .

**﴿امتیاز د سورت﴾**

سورت ممتاز دي په صفت د نبی علیه السّلام په مزمل سره او په تذکره د قیام اللّیل .

### ﴿سورة المدّثّر﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي څلور اویا یم/۷٤ او په نزول کښي څلورم مخکښي د فاتحه او پس د مزمل نه نازل دي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي ترغی الی القران وو نو دلته ترغیب الی التبلیغ ذکر کوی .

### ﴿دعوی د سورت﴾

ترغیب الی التبلیغ .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

د ابتداء نه رسول اللّٰه صلّی اللّٰه علیه وسلّم ته ترغیب ذکر کوی بیا زورنه په انکار کونکو او یره دویمه رکوع کښي صداقة د نبی علیه السّلام بشارت او یره او زورنه نه منونکو ته ختم د سورت په ترغیب چی مسئله اومنئ چی اللّٰه مو ګناهونه معاف کړی.

### ﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په صفت د پیغمبر په مدثر سره .

### ﴿سورة القیامة﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي پنځه اویا یم/۷۵ او په نزول کښي یو دیرشم /۳۱ پس دقارعه او مخکښي د همزه نه نازل دي.

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي ترغیب الی التبلیغ وو نو دلته اثبات د قیامت کوی چی د منلو او نه منلو بدله به ملاویږی .

**فائده** :- د دي ځائی نه تر اعلی پوری مسئله د قیامت ذکر کوی خو هر سورت کښي به طریقه بدله وی .

**﴿دعوی د سورت﴾**

اثبات د قیامت .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

اول دوه ګواهان په قیامت ذکر کوی بیا زورنه انکار کونکو ته بیا خطرناکی د قیامت او د هغی نخی ذکر کوی او اداب د قران په مینځ کښي ذکر کوی بیا زورنه اویری او اخر کښي اثبات د قیامت په پیدائش د انسان باندی .

**﴿امتیاز د سورت﴾**

سورت ممتاز دي په لا تحرِّک به لسانک لتعجل به باندی .

**﴿سورة الدّهر﴾**

مدنی سورت دي ترتیب قرانی کښي شپږ او یایم/۷٦ او په نزول کښي اته نوی/۹۸ روستو د رحمن او مخکښي د رعد نه نازل دي.

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي اثبات د قیامت وو نو دلته تفصیلی بشارت په لسو طریقو سره .

**﴿دعوی د سورت﴾**

اثبات د قیامت په مثال سره .

﴿خلاصه د سورت﴾

اول بشارت د قيامت په مثال سره په پيدائش د انسان باندی بيا مختصره يره او تفصيلی بشارت په دريمه رکوع کښي ترغيب الی القران دپاره د تيارئ د قيامت او مسئله د توحيد او زورنه په محبت د دنيا باندی .

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په چينو د جنت چی سلسبيل او زنجبيل دی او په يفجّرونها تفجيرًا باندی .

﴿سورة المرسلات﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي اووه اويايم/٧٧ او په نزول کښي دری ديرشم/٣٣ مخکښي د ق او پس د همزه نه نازل دي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي په لسو طريقو سره بشارت وو نو دلته په لسو طريقو سره تخويف ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

تخويف انّما توعدون لواقعٌ .

﴿خلاصه د سورت﴾

اول پنځه شواهد په اثبات د قيامت چی دا ځيزونه گواه دی چی قيامت راروان دي بيا احوال د قيامت او يره د دنيا او دلائل عقليه په اثبات د قيامت ٢٩ نه يره د اخرت دويمه رکوع کښي بشارت او زورنی .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ایت د ویلٌ یّومئذٍ لّلمکذّبین باندی په کثرت سره .

﴿سورة نبأ﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي اته اویایم/۷۸ او په نزول کښي اتیایم/۸۰ پس دمعارج او مخکښي د نازعات نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي تخویف په لسو طریقو سره وو نو دلته لس دلائل په اثبات د قیامت ذکر کوی او لس داسی څیزونه چی امیر او غریب پکښي یو شان دی .

﴿دعوی د سورت﴾

اثبات د قیامت او رد د شفاعت قهریه .

﴿خلاصه او تقسیم د سورت﴾

دوه بابونه دی اول باب اوله رکوع ۳۰ پوری پدیکښي اول زورنه په اثبات د قیامت بیا لس دلائل چی هغه دنیا کښي هر څوک شریک دی چی کوم ذات دا کولي شی نو هغه قیامت هم راویستلي شی او د قیامت په ورځ به دوی کښي جدائی راشی بیا تفصیل او حال د قیامت او یره دویم باب د ۳۱ نه پدیکښي بشارت او نفی د شفاعت قهریه او زورنه په انکار د قیامت باندی .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په لسو مشترک څیزونو باندی .

### ﴿سورة النّازعات﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي يو کم اتيايم/۷۹ پس د نبأ او مخکښي د انفطار نه نازل شويدي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي دلائل په اثبات د قيامت نو دلته شواهد په قيامت ذکر کوی .

### ﴿دعوی د سورت﴾

اثبات د قيامت په شواهدو باندی او تخويف دنيوی .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

اوله رکوع کښي شواهد دی په اثبات د قيامت باندی او خطرناکی د قيامت ذکر کوی بيا يری د دنيا دپاره مثال چی چا نه وه منلی نو په هغوی دنيا کښي وړوکي جرړق پريوتو د غټ نه مخکښي دويمه رکوع کښي تفصيل د دلائلو د سورت نبأ او تخويف او بشارت او زورنه په انکار د قيامت باندی .

### ﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په دعوی د فرعون د خدائيتوب انا ربّکم الاعلی .

### ﴿سورت عبس﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي اتيايم/۸۰ نمبر او په نزول کښي خليريشتم/۲٤ روستو د نجم او مخکښي د قدر نه نازل شويدي .

﴿ربط د مخکبني سورت سره﴾

مخکبني اثبات د قيامت وو نو دلته هم اثبات د قيامت کوی په بل انداز او خطرناکۍ د قيامت سره د زورنی نه .

﴿دعوی د سورت﴾

خطرناکی د قيامت چی هلته به نفسی نفسی وی .

﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه د نبی عليه السّلام شان ذکر کوی چی څومره د مخلوق په اصلاح حرصناک دي چی دوی د قيامت د عذاب نه بچ شی نو ادب چی په تعليم کبني مساوات د ۱۱ نه دقران مقام چی قران پخپله دروند دي که دوی منی اوکنه بيا زورنه په انکار او دليلونه په اثبات د قيامت د ۳۳ نه د قيامت خطرناکی چی هر سړي به د ځان غم کبني وی بيا بشارت او يره .

﴿امتيازدسورت﴾

اداب دتعليم او په نوم د قيامت په صآخّة سره .

﴿سورة التّکوير﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کبني دوه اتيايم/۸۲ او په نزول کبني اووم پس د لهب او مخکبني د اعلی نه نازل دي .

﴿ربط د مخکبني سورت سره﴾

مخکبني زورنه په انکار د قيامت نو دلته احوال د فناء د دنيا ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

ملاقات د انسان د خپل عمل سره په ١٤ کبني .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

دولس احوال د قيامت ذكر كوى شپږ مخكښي د فناء د دنيا نه ٦ پورى او شپږ پس د فنا د عالم نه بيا دعوى د سورت ١٤ كښي بيا شواهد په صداقة د نبى عليه السّلام او ترغيب الى القران چى د دى نه تياري د قيامت اوكړئ.

**﴿امتيازد سورت﴾**

سورت ممتاز دي په ابتدائى ځلورو شواهدو باندى.

**﴿سورة الانفطار﴾**

مكى سورت دي ترتيب قرانى كښي دوه اتيايم/٨٢ او په نزول كښي هم دوه اتيايم/٨٢ پس د نازعات او مخكښي د انشقاق نه نازل دي.

**﴿ربط د مخكښي سورت سره﴾**

هلته دولس احوال د قيامت نو دلته ٤ احوال ذكر كوى.

**﴿دعوى د سورت﴾**

وضاحت د مخكښي سورت او نفى د شفاعت قهريه.

**﴿خلاصه د سورت﴾**

اول ځلور انقلابات ذكر كوى بيا وضاحت د ما احضرت په ما قدّمت واخّرت سره بيا زورنه انكار كونكو ته اخر كښي نفى د شفاعت قهريه.

**﴿امتيازد سورت﴾**

سورت ممتاز دي په تذكره د كرامًا كاتبين باندى.

﴿سورة المطفّفين﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي دری اتيايم/۸۳ او په نزول کښي شپږ اتيايم/۸٦ مخکښي د بقره او پس د عنکبوت نه نازل شويدي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي احوال د قيامت نو دلته ترغيب ايمان ته.

﴿دعوی د سورت﴾

ترغيب الی القران.

﴿خلاصه د سورت﴾

اول زورنه انسان ته چی معمولی مال نه برداشت کوی او د اخرت کمی ته ئي فکر ندي کړي څوک خپل نوم د رجسټر نه نشی روانولي نو کوم رجسټر کښي ځان ليکل غواړی يری او زورنی بيا بشارت او زورنی چی مؤمنانو پوری خنده کوی خو قيامت کښي به ئي پته اولګی.

﴿امتياز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په تذکره د عليّين او سجّين باندی.

﴿سورة الانشقاق﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي څلور اتيايم/۸٤ او په نزول کښي دری اتيايم/۸۳ روستو د انفطار او مخکښي د روم نه نازل شويدي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي ترغيب وو ايمان ته نو دلته ترغيب دي اعمال صالحه ته .

﴿دعوی د سورت﴾

ترغيب اعمال صالحه ته چی انّک کادحٌ الی ربّک .

﴿خلاصه دسورت﴾

اول يره د اخرت چی داسي ورځ راروانه ده نو يا ايّها الانسان سره ترغيب اعمال صالحه ته او بشارت بيا ذکر د بد اعمالو خلقو او زورنه په انکار د اخرت او په اعراض د قران باندی ختم د سورت په بشارت باندی .

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په وامّا من اُوتی کتابه وراء ظهره باندی .

﴿سورة البروج﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي پنځه اتيايم/۸۵ او په نزول کښي اوويشتم/۲۷مخکښي د تين او روستو د شمس نه نازل دي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي ترغيب وو اعمال صالحه ته نو دلته نيک عملو ته تسلی ورکوی .

﴿دعوی د سورت﴾

تخويف او بشارت انّ بطش ربّک لشديدٌ .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

سورت کښې ابتداء نه شواهد چې د داسې مالک ذات خلاف سبب د عذاب دي بيا يوتاريخي شاهد ذکر کوی او زورنه چې ځوک مؤمنان تنګوی او بشارت مومنانو ته ذکر کوی او صفات د الله او ختم په تخويف او ترغيب الى القران .

### ﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په واقعه د اصحاب الاخدود باندی او په لفظ د لوح محفوظ .

### ﴿سورة الطّارق﴾

ترتيب قرانی کښې شپږ اتيايم/۸٦ او په نزول کښې شپږ ديرشم/۳٦ روستو د بلد او مخکښې د قمر نه نازل شويدي مکی سورت دي .

### ﴿ربط د مخکښې سورت سره﴾

هلته يره د دنيا وه نو دلته وائی چې عذاب يقينی دي خو په دمه به راځی اخری ايت کښې .

### ﴿دعوی د سورت﴾

فمهّل الكفرين په ۱۷ کښې .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

اول نه يره چې ټول اعمال محفوظ دی نو خيال کوه بيا دليلونه د قيامت ذکر کوی او شواهد د قيامت نو چې کله داسی ده نو کافر الله ته پريږده .

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په والسّمآء والطّارق باندی .

﴿سورة الاعلی﴾

ترتيب قرانی کښي اووه اتيايم/۸۷ او په نزول کښي اتم روستو د تکوير او مخکښي د فيل نه نازل دي مکی سورت دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

هلته يره ذکر شوه نو دلته د عذاب نه د بچ کيدو ذريعه ښائی.

﴿دعوی د سورت﴾

توحيد او تزهيد من الدّنيا .

﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه مسئله د توحيد دوه ما له اومنه دوه به تا له در کړم خالق او عالم ما اومنه قران او جنت به تال درکړم په ٦ او ٨ کښي بيا تسلی داعی ته او يره نه منونکو ته ددين نه رکاوټ دنيا ده نو د هغی نه بے رغبتی ذکر کوی او دليل نقلی چی دا مضمون توحيد او تزهيد من الدّنيا په مخکښي کتابونو کښي هم وو .

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په دي چی کمال د الله تسبيح ده او کمال د انسان قران او په صحف ابراهيم او موسی .

﴿سورة الغاشية﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي اته اتیایم/۸۸ او په نزول کښي اته شپیتم/٦٨ مخکښي د کهف او روستو د ذاریات نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي تزهید من الدّنیا نو دلته ترغیب الی الاخرة ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

تخویف او بشارت .

﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه نه منونکو ته یره بیا مؤمنانو ته بشارت او د هغوی ښائسته انجام او د هغوی د درجاتو مثالونه ذکر کوی بیا ترغیب بیان ته او زجر په انکار .

﴿امتیاز د سورت﴾

څلور ناشنا مثالونه .

﴿سورة الفجر﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو کم نوی/۸۹ او په نزول کښي لسم پس د لیل او مخکښي د ضحی نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي ترغیب اخر ته نو دلته تزهید من الدّنیا ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

اهانت او سپکوالي د محبت د مال ذکر کوی .

﴿خلاصه د سورت﴾

اول کښې ترغيب چې انسانه د مال په محبّت کښې درنه قيمتي وختونه لاړل بيا يره د دنيا او د هغه خلقو حال چې چا وخت په مال ضايع کړي وی بيا سپکوالي د مال چې انسان مال ته عزّت وائی نو هغه ته زورنه بيا يره د اخرت چي بيا به ارمان کوی نو اوس وخت په عبادت اولګوه پدي ځان مطمئن کړه .

﴿امتيازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذکر د قيمتي اوقاتو باندی .

﴿سورة بلد﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښې نوی/۹۰ او په نزول کښې پنځه ديرشم/۳۵ مخکښې د طارق او پس د ق نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښې سورت سره﴾

مخکښې تزهيد من الدّنيا وو نو اوس زجر مسرفينو ته ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

زجر مسرفينو ته .

﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه دوه شواهد ذکر کوی ترغيب دپاره چې انسان مشقت له پيدا دي نو پکار ده چې تابعداری ئی کړي وي بيا زورنه اسراف کونکو ته او صحيح مصارف ښائی بشارت او تخويف .

**﴿امتیاز د سورت﴾**

سورت ممتاز دي په ابتدائی شواهدو باندی او د کلی د اصلاح دري اصولو باندی.

**﴿سورة الشّمس﴾**

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو نوی/۹۱ او په نزول کښي شپږ ویشتم/۲٦ مخکښي د بروج او روستو د قدر نه نازل شویدي.

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي زجر مسرفینو ته نو دلته تفرقه په عقیده کښي ذکر کوی چی د خلقو عقائدو کښي فرق شته یعنی تعین د اصحاب المشئمة او میمنه کوی.

**﴿دعوی د سورت﴾**

په تفرقه فی الاعتقاد به ګواهی ذکر کوی.

**﴿خلاصه د سورت﴾**

ابتداء نه ۸ پوري څلور شواهد ذکر کوی دپاره د فرق په عقیده کښي لکه څنګه په نمر سپوږمئ شپه او ورځ زمکه او اسمان او نیکئ او بدئ کښي فرق دي نو دغه شان ستاسو عقیدو کښي فرق دي بیا د خرابی عقیدی والا د دنیا حالات ذکر کوی.

**﴿امتیاز د سورت﴾**

سورت ممتاز دي په تفرقه فی الاعتقاد باندی په شواهدو.

﴿سورة الّیل﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي دوه نوی/۹۲ اوپه نزول کښي نهم/۹ مخکښي د فجر او پس د اعلی نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي تفرقه فی الاعتقاد وه نو دلته تفرقه په اعمالو کښي ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

تفرقه فی الاعمال ٤ کښي .

﴿خلاصه د سورت﴾

اول شواهد ذکر کوی لکه څنګه چې شپه او ورځ او په نر او ماده کښي فرق دي نو دغه شان اعمالو کښي فرق دي او د اعمالو دبدلی فرق ذکر کوی او بدبخته ته یره د اخرت او انفاق ته ترغیب .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په تفرقه فی الاعمال باندی .

﴿سورة الضّحی﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي دری نوی/۹۳ او په نزول کښي یوولسم/۱۱ مخکښي د انشراح او پس د فجر نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي د امت حال تفرقه فی الاعمال وه نو دلته د داعی اعظم حال ذکر کوی و لسوف یعطیک .

﴿دعوی د سورت﴾

تسلی نبی علیه السّلام ته او صداقة د نبی علیه السّلام .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

اول شواهد دپاره د تسلی د نبی علیه السّلام ذکر کوی بیا هغه ته تسلی ورکوی او انعام په نبی علیه السّلام او طریقه د انعاماتو.

### ﴿امتیازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په حال د داعی او په سیرت د نبی علیه السّلام .

### ﴿سورة الا نشراح﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي څلور نوی/۹٤ او په نزول کښي دولسم مخکښي د عصر او روستو د ضحی نه نازل شویدي .

### ﴿ربط د مخکښي د سورت سره﴾

مخکښي تسلّ وه نبی علیه السّلام اوس تسلی امت ته .

### ﴿دعوی د سورت﴾

تسلی امت ته .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

دری انعامات په امت خطاب نبی علیه السّلام ته مراد ترینه امت دي سینه ئی درله ایمان ته پرانسته د شرک بوج ئی ستاسو نه لری کړو او ستاسو درجات ئي اوچت کړو نو د اللّٰه دپاره سخته برداشت کړه .

### ﴿امتیازد سورت﴾

سورت ممتاز دي په دری انعاماتو باندی .

## ﴿سورة التّين﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي پنځه نوی/۹۵ او په نزول کښي اته ویشتم پس د بروج او مخکښي د قریش نه نازل دي .

## ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي انعامات ثلاثه وو نو دلته ترغیب الی التبلیغ دي .

## ﴿دعوی د سورت﴾

تشجیع فی التبلیغ .

## ﴿خلاصه د سورت﴾

اول شواهد چی اوګوره دی صاحبانو خومره سختئ برداشت کړیدی نو تاسو هم سختئ برداشت کړئ چا چی اومنله نو احسن تقویمٍ او چا چی اونه منله نو اسفل سافلین ئې ځائی شو اخر کښي مسئله د توحید چی دا مسئله په بهادرئ سره اورسوه .

## ﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذکر د تین باندی .

## ﴿سورة العلق﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي شپږ نوی/۹٦ او په نزول کښي اول نمبر دي مخکښي ترینه سورت نشته دي او روستو ترینه قلم دي .

## ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي ترغیب الی التبلیغ وو نو اوس ترغیب الی القران دي .

**﴿دعوی د سورت﴾**

مقاصد ثلاثه او ترغیب الی القران .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

ابتداء نه ترغیب دي قران ته چی دا سبب د کرامت او عزت د انسان دي او زورنه انسان ته په سرکشئ باندی او نور مقاصد ثلاثه ذکر کوی .

**﴿امتیاز د سورت﴾**

سورت ممتاز دي په دي اشاره چی په ژبه او قلم د دین خدمت کیږی .

**﴿سورة القدر﴾**

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي اووه نوی/۹۷ او په نزول کښي پنځه ویشتم/۲۵ مخکښي د شمس او پس د عبس نه نازل دي .

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي سورت کښي قران کریم ته ترغی ذکر کړو نو دي سورت کښي د قران عظمت او لوئی والي ذکر کوی .

**﴿دعوی د سورت﴾**

عظمت د قران .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

عظمت او عزت د هغه شپي ذکر کوی چی په کومه شپه قران نازل شویدي دا قران اوایه چی تاسو له هم برکت او عزت درکړی .

﴿امتيازد سورت﴾

د ليلة القدر فضيلت .

﴿سورة البيّنة﴾

مدنی سورت دي ترتيب قرانی کښي اته نوی/۹۸ او په نزول کښي سلم/۱۰۰ مخکښي د حشر او پس د طلاق نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي سورت کښي د قران عظمت ذکر کړو اوس زورنه په انکار د قران ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

زورنه په انکار د نعمت د قران او پيغمبر باندی .

﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه زورنه چی الله د مخلوق د هدايت انتظام اوکړو نو د دوی بے انصافئ ته اوګوره چی انکار ئی اوکړو بيا تخويف او بشارت ذکر کوی .

﴿امتيازد سورت﴾

بغير د انتظام د قران او پيغمبر نه هدايت ممکن ندي .

﴿سورة الزّلزال﴾

مدنی سورت دي ترتيب قرانی کښي يو کم سلم/۹۹ او په نزول کښي دری نوی/۹۳پس د نساء او مخکښي د حديد نه نازل دي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي سورت کښي زورنه ذکر کړه په انکار باندی نو دي سورت کښي يره د اخرت ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

تخويف اخروی .

﴿خلاصه د سورت﴾

اول د قيامت خطرناک حالتونه ذکر کوی بيا د خلقو جمع کيدل او بيا د خپل عمل سره ملاقات : خه وی او که بد وی .

﴿امتيازد سورت﴾

د قران کريم د ټولو نه د يري ايت چی فمن يّعمل مثقال ذرّةٍ شرًّا يّره .

﴿سورة العاديات﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي سلم/١٠٠ او په نزول کښي څوارلسم/١٤ مخکښي د تکوير او پس د عصر نه نازل شويدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي سورت کښي يره ذکر کړه نو دی سورت کښي زورنه په ناشکرئ او نافرمانئ ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

زجر په محبت د دنيا باندی .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

انسان ته زورنه چی اسونه د خپل مالک تابعداری کوی او ته د خپل مالک ناقدری کوی بیا مرض د انسان لکنودٌ او سبب د مرض چی هغه مینه د مال ده لحبّ الخیر او علاج د مرض چی اذا بعثر ما فی القبور دي .

### ﴿امتیاز د سورت﴾

د انسان مرض او سبب د مرض او علاج .

### ﴿سورة القارعة﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو سل یو/۱۰۱ او په نزول کښي دیرشم/۳۰ مخکښي د قیامة او روستو د قریش نه نازل دي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي زورنه په محبت د مال ذکر کړه نو دلته یره د اخرت ذکر کوی .

### ﴿دعوی د سورت﴾

تخویف اخروی .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه د قیامت خطرناکی ذکر کوی چی داسی ورځ راروانه ده بیا بشارت او تخویف .

### ﴿امتیاز د سورت﴾

﴿سورة التّكاثر﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي يوسل دويم/۱۰۲ او په نزول کښي شپاړلسم/۱٦ روستو د کوثر او پس د ماعون نه نازل دي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي سورت کښي يره د اخرت ذکر کړه نو دی سورت کښي تزهيد من الدّنيا چی د اخرت نه دنيا غافله کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

تزهيد من الدّنيا .

﴿خلاصه د سورت﴾

اول زورنه په محبت د دنيا ذکر کوی او بيا يره ذکر کوی چی دا د دنيا نعمتونه درباندی وبال شی .

﴿امتيازد سورت﴾

تکاثر د هر څه سبب د غفلت دي .

﴿سورة العصر﴾

مکی سورت دي ترتيب قرانی کښي يو سل دريم/۱۰۳ او په نزول کښي ديارلسم پس د انشراح او مخکښي د عاديات نه نازل دي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي د دنيا نه بے رغبتی ذکر کړه نو دلته اوس ترغيب نيکو عملونو ته ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

ترغيب الی الاعمال الصّالحة .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

شاهد ذکر کوی چی د انسان تاریخ د خسران دي سوی د هغه خلقو نه چی هغوی کښي دا څلور اعمال راغلل .

**﴿امتیاز د سورت﴾**

**﴿سورة الهمزة﴾**

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو سل څلور/١٠٤ او په نزول کښي دوه دیرشم/٣٢ پس د قیامة او مخکښي د مرسلات نه نازل دي .

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي نیکو اعمالو ته ترغیب ذکر کړو نو اوس په بدو اعمالو زورنه ذکر کوی .

**﴿دعوی د سورت﴾**

زجر او تزهید من الدّنیا .

**﴿خلاصه د سورت﴾**

د دي ځائی نه تر ماعون پوري د باطل پرستو پلیتئ ذکر کوی پدی سورت کښي یوه پلیتی ذکر کوی چی دوی په حق پرستو عیب لګوی بیا مینه د مال او ورسره یره د اخرت ذکر کوی داسی خلقو ته.

**﴿امتیاز د سورت﴾**

د قیامت د اور نوم حطمة .

﴿سورة الفيل﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي يو سل پنځم/۱۰۵ او په نزول کښي نولسم/۱۹ پس د کافرون او مخکښي د فلق نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

اوس دلته د باطل پرستو دویمه نخه ذکر کوی چی د دین ځایونه روانوی .

﴿دعوی د سورت﴾

يره د دنيا .

﴿خلاصه د سورت﴾

د هغه خلقو حال ذکر کوی چی څوک د دین ځایونه روانوی چی الله هغوی څنګه تباه او برباد کړل .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په واقعه د اصحاب الفیل باندی .

﴿سورة القريش﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي يو سل شپږم/۱۰٦ او په نزول کښي يو کم دیرش/۲۹ پس د تین او مخکښي د قارعه نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

اوس دلته د باطل پرستو دریمه نخه ذکر کوی چي محبت د مال دي .

﴿دعوی د سورت﴾

تزهيد من الدّنيا .

﴿خلاصه د سورت﴾

قریش چی د مال د مینی دپاره یو خوا بل خوا ځی او د بیت الله عبادت پریږدی ستاسو عزت په بیت الله دي نو د دینه کوم خوا ځئ.

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په دوه سفرونو د قریشو یو د ژمی او بل د اوړی.

﴿سورة الماعون﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو سل اووم/۱۰۷ او په نزول کښي اوولسم/۱۷پس د تکاثر اومخکښي د کافرون نه نازل دي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

دلته د باطل پرستو څلورمه ٹخه ذکر کوی چی په کمزورو خلقو زیاتي کوی.

﴿دعوی د سورت﴾

پنځه پلیت اخلاق د منکرینو ذکر کوی.

﴿خلاصه د سورت﴾

سورت کښي زورنه ذکر کوی په بدو اخلاقو باندی او هغه ناکاره اخلاق ذکر کوی.

﴿امتیاز د سورت﴾

هُمْ عَنْ صَلوتهم سَاهُونَ .

﴿سورة الکوثر﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو سل اتم/۱۰۸ او په نزول کښي پنځلسم/۱۵ روستو د عادیات او مخکښي د تکاثر نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

اوس د دي ځائی نه تر سورة اللّهب پوري د حق پرستو څلور نخی ذکر کوی .

﴿دعوی د سورت﴾

ترغیب ښکلو اعمالو ته .

﴿خلاصه د سورت﴾

دوه ما له راکړه مال اوبدن نو دوه به تا له درکړم خیر کثیر به درکړم او دشمن به دِ تباه کړم .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په ذکر د کوثر باندی .

﴿سورة الکافرون﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو سل نهم/۱۰۹ او په نزول کښي اتلسم/۱۸ پس د ماعون او مخکښي د فیل نه نازل دي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

د حق پرستو دويمه ځه ذکر کوی چی بائیکاټ د کافرانو نه کوی .

### ﴿دعوی د سورت﴾

د الله د دشمنانو نه بائیکاټ .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

اعلان د بائیکاټ چی کافرو ته اعلان اوکړه چی ځما ستاسو معبود او طریقه د عبادت ټول جدا دی . ستاسو ځانله دین دي او ځما ځانله دین دي .

### ﴿امتیاز د سورت﴾

د معبود باطل او دین باطل نه بائیکاټ .

### ﴿سورة النصر﴾

مدنی سورت دي ترتیب قرانی کښي يو سل لسم /۱۱۰ او په نزول کښي يو سل څوارلسم/۱۱٤ پس د توبه نه او روستو تری سورت نشته دي .

### ﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

دلته انعام د بائیکاټ ذکر کوی چی کله دي بائیکاټ اوکړو نو اوس به دِ مدد الله کوی .

### ﴿دعوی د سورت﴾

بشارت مؤمنانو ته د فتح .

### ﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء نه بشارت د فتح بیا د شکر اعمال کول .

﴿امتیاز د سورت﴾

سورت ممتاز دي په دی چی دا د ټولو نه اخری نازل شویدي.

﴿سورة اللّهب﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو سل یولسم/۱۱۱ او په نزول کښي شپږم پس د فاتحه او مخکښي د تکویر نه نازل شویدي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي د مدد زیري ذکر کړو نو اوس دمدد یوه نمونه ذکر کوی چی تباهی د دشمن ده .

﴿دعوی د سورت﴾

تباهی د دشمن ذکر کوی .

﴿خلاصه د سورت﴾

ابتداء کښي د تباهئ د دشمن اعلان چی د هغه څه اعمال پکار راتلل او څوک چی د حق پرستو خلاف تدبیر جوړوی نو هغه به تباه شی .

﴿امتیاز د سورت﴾

د ابو لهب او د هغه د ښځی تباهی .

﴿سورة الاخلاص﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو سل دولسم/۱۱۲ او په نزول کښي دوه ویشتم/۲۲ پس د سورة النّاس او مخکښي د نجم نه نازل دي .

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

دلته اوس هغه مسئله ذکر کوی چې د هغې د وجې نه مدد راځی او دشمن تباه کیږی.

﴿دعوی د سورت﴾

مسئله د توحید ذکر کوی.

﴿خلاصه د سورت﴾

سورت کښي توحید ذاتی او صفتی د الله تعالی او رد په هر قسم شرک او مشرک باندی ذکر کوی.

﴿امتیاز د سورت﴾

د الله د صفت د صمد تذکره.

﴿سورة الفلق﴾

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو سل دیارلسم/۱۱۳ او په نزول کښي شلم/۲۰ پس د فیل او مخکښي د ناس نه نازل دي.

﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾

مخکښي د توحید خزانه ذکر کړه اوس د خزاني د حفاظت تذکره ذکر کوی.

﴿دعوی د سورت﴾

تعوّذ او پناهی دظاهری آفتونو نه.

﴿خلاصه د سورت﴾

د الله تعالی یو صفت او څلور شرونه ذکر کوی چې د کومو نه پناه غوښتلي کیږی.

**﴿امتیاز د سورت﴾**

د شرونو او د هغي نه د پناه تذکره.

**﴿سورة النّاس﴾**

مکی سورت دي ترتیب قرانی کښي یو سل څوارلسم/۱۱٤ او په نزول کښي یوویشتم/۲۱ روستو د فلق او مخکښي د اخلاص نه نازل شویدي.

**﴿ربط د مخکښي سورت سره﴾**

مخکښي ظاهری آفتونو نه پناه ذکر کړه اوس دلته باطنی او روحانی شرونو نه پناه ذکر کوی.

**﴿دعوی د سورت﴾**

تعوّذ او پناهی غوښتل د باطنی او روحانی شرونو نه.

**﴿خلاصه د سورت﴾**

سورت کښي دری صفات د الله تعالی او دری حالتونه د انسان ماشومولي ځوانی او بوډاوالي پدی هر حالت کښي انسان الله تعالی ته محتاج دي او یو شر ذکر کوی چی د هغی نه پناه غوښتلي کیږی او د هغه شر دري پلیتئ ذکر کیږی قران پدی صفاتو شروع شوي وو په ربّ اومالک باندی او په دي صفاتو ئي ختموی.

**﴿امتیاز د سورت﴾**

د الله دري صفتونه او د انسان دری احوال.

سبحنک اللّٰهُمَّ وبحمدک اشهد ان لّا اله الّا انت استغفرک واتوب الیک.

## تمّت بالخير

٢٠٢٠ – ١٠ – ٩ وقت بعد الفجر يوم الجمعة